

SIKARAAM

# نبوي دعوت

لیکوال: محمد رسول پیروز (زبیر افغان)

۱۴۰۳ لمریز

Www.sikaraam.com

﴿ ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴾.(النحل: ١٢٥)

# نبوي دعوت

زبير افغان

**خپرندويه اداره:**

**پېروز د ديني مطالعاتو او څېړنو بنسټ**

Www.sikaraam.com

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: نبوي دعوت

لیکوال: زبیر افغان

چاپ کال: ۲۰۲۱ م

خپرندویه اداره: **پېروز د دیني مطالعاتو او څېړنو بنسټ**

ډیجیټل خپرول: ۲۰۲۴ م

Www.sikaraam.com

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**سريزه**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، وبعد:

{وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَـأْمُرُونَ بِـالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَـوْنَ عَـنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} [آل عمران: ١٠٤]

ژباړه: او له تاسو دې يوه ډله خير ته بلنه کوي، په معروف دې امر او له منکره دې منعه کوي او همدوی بريالي دي.

له دې الهي امر سره سم دغه کتاب هم د دې يادو شويو مواردو يوه وړه هڅه ده.

**د کتاب اړتيا:**

په خپله ژبه کې له کتاب څخه مفهوم اخيستل نسبتن بلې ژبې ته که ټولو خلکو ته اسانه نه وي، نو ډېريو ته اسانه وي، ځکه د خپلې ژبې له ليکنيزې او ګړنيزې دواړو بڼو سره انسان بلدتيا لري، له دې امله يـې پـه

مفهوم کې ډېر نه خطاوزي. دا چې زمو په خپله ژبه کې د نبوي دعوت په اړه ما تر اوسه کوم کتاب نه وو لیدلی، لـه دې املـه مـې پـر همـدې موضوع د لیکنې اړتیا ځکه احساس کړه چې که موږ په خپل دعوت او دیني بلنه کې د رسول الله ﷺ تګلاره او اصول په پام کې ونه نیسـو، نـو زموږ د ژوند شوې ټولې هڅې به په اوبو لاهو شي. نـو د رسـول الله ﷺ له دعوتي تګلارې ځان خبرول ډېر اړین دي چې هر مسلمان بایـد تـر خپله وسه په دې هڅه کې شي چې لومړی دا تګلاره ځان ته معلومه او بیا یې په خپل دعوت او بله کې د عملي کېدو کوښښ وکړي.

پښتو ژبه تر اوسه لا په دیني او دنیوي لحاظ علمي موادو تـه سـخته اړتیا لري، ما په خپل دې کتاب کې هڅه کړې ده چې له باوري سرچینو استفاده وکړم، معلومات مې کره وي او د رسول الله ﷺ په اړه خدای مه کړه داسې څه ونه لیکم چې هغه ته منسوبول یې د یوه مسلمان له شـان سره مناسب نه وي، خدای دې وکړي چې دا کتاب تر یـوه حـده دغـه تشه ډکه کړي او پر همدې موضوع د لا نورو لیکنو لومړی ګام شي.

**د کتاب ارزښت:**

د کتاب ارزښت په دې کې دی چې پـه دینـي لحـاظ پـر یـوه ډېـره حیاتي موضوع لیکل شوی دی، یو مسلمان په خپل ژوند کې هر وخت دعوت کوي، له کوره واخله تر کلي، ښاره، هیواده او ټول جهانه پورې

دا دنده لري چې ښه خبره وکړي او له بدو ځان وساتي، قران کريم وايي:

{وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا} [البقرة: ٨٣]

ژباړه: او انسانانو ته ښې خبرې کوئ.

دا چې په دين کې هر عمل بايد د رسول الله ﷺ له تګلارې سره سم تر سره شي، نو په دعوت کې دې ته ډېره اړتيا ليدله کېږي چې د رسول الله ﷺ دعوتي تګلاره ځان ته معلومه کړو، لومړی ځان په پوه کړو او بيا يې د عملي کولو هڅه وکړو، تر پوهې مخکې عمل نه وي، قران کريم وايي:{ فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ } [محمد: ١٩]

ژباړه: نو په دې پوه شه چې له الله ماسيوا بل معبود نه شته.

دلته په توحيد تر اقرار مخکې الله تبارك وتعالی خپل رسول ﷺ ته امر کوي چې لومړی پوه شه، علم تر لاسه کړه، ځکه په علم سره د يوه شي حقيقت ښه روښانه کېږي او بې علمي د دې سبب کېږي چې نه د يوه شي حقيقت معلوم شي او هم د هغه د اصل مقتضا پر ځای بل داسې کار وشي چې ورسره په ټکر کې وي.

د دې کتاب ارزښت همدغه دی چې د هر مسلمان لپاره يو وړوکی لارښود، د نبوي دعوت پر موضوع مو تمرکز کړی او هڅه مو کړې ده

چې له لنډوالي سره د موضوع د ډېرو بعدونو را سپړونکی وي. دغه موضوع د هر مسلمان ورځنۍ موضوع ده چې هم په عملي ژوند کې ورسره مخېږي او هم په نظري توگه، ددې لپاره چې دين ته په عملي ډول دعوت څنگه وي او قولي څنگه کېږي؟ بايد دا کتاب د همدې پوښتنې لپاره وکتل شي او خپلو پوښتنو ته پکې ځواب پيدا کړي.

**د ليکنې تگلاره:**

ما په خپله ليکنه کې پوره کوښښ کړی دی چې ټول مواد له کره سرچينو واخلم، په بې اساسه يا کمزورو موادو مې د کتاب غټولو ته ځايه هڅه نه ده کړې. له هر کتاب څخه چې مې اخذ کړی هلته مې په لمن ليک کې حواله ور کړې ده او کله داسې هم شوي چې د يوه پاراگراف حواله مې ور کړې او کله دوه يا درې پاراگرافه ليکم بيا مې يوه کتاب ته حواله ورکړې ده چې همدا مواد مې ترې اخيستي وي، که د يوه کتاب حواله پرلپسې دوه يا درې واره يو په بل پسې تکرار شي، نو د تير يا ياد کتاب په ليکلو مې د هغه کتاب ټوك او مخ هم ورسره ليکلي دي.

د کتاب مراجع مې ټولې عربي دي، ما يې د کتاب په اخير کې معرفي ليکلې ده، ځکه پر دې موضوع عربي ژبه کې زيات کار شوی دی او که خاص کتاب نه وي پر ليکل شوی هم د قران کريم، نبوي احاديثو، نبوي سيرت او فقهي لويه زيرمه عربي ده، چې په دغه ډول

کتابونو کې همدې څلورو کټګوریو کتابونو ته زیاته اړتیا پېښېږي، نو همدا وجه ده چې زما د یوې موضوع لپاره د کوم کتاب حوالې ته اړتیا پیدا شوې مخامخ هغه کتاب ته ورغلی یم او پر موضوع مې کتلی او بیا مې اقتباس ورڅخه کړی، نو په لمن لیک کې شته حوالې یې په ډېر دقت ور کول شوې دي چې که د خدای خوښه وه هیڅ ډول غلطي او تیروتنه به ونه لري.

کتاب څلور فصلونه لري چې په هر فصل کې یې دوه مبحثونه راغلي او تر هر مبحث لاندې دوه یا درې مطالب راغلي دي چې تر مطلب لاندې په یوه عنوان کې موضوع تشریح شوې ده، یا که څو سرلیکونه وي، بیا مو د الف با یا یوه او دوه په ور کولو د دغه ډول تحقیقي لیکنو دودیزه تګلاره تعقیب کړې ده.

په دې هیله چې دا وړه هڅه مې په دغه برخه کې ګټوه تمامه شي، لوستونکي ور کړی وخت، پرې ضایع ونه ګڼي او موږ ته د اخرت یوه توښه شي، خلکو مو له همدې امله په دعا کې یاد کړي او د خدای په دربار کې راته د اجرت او ثواب وسیله شي. تاسو ته په ښه انتقادي نظر د لوست بلنه در کوم او زه مو همدلته پر خدای سپارم!

۲۳/۱۲/۲۰۲۰

کابل - افغانستان

# اول څپرکی

## لومړی مبحث

## د دعوت معرفي

### اول مطلب:

### د دعوت مفهوم:

دعوت په عربي کې د ګڼو ماناو لپاره کارېږي. د ښرا(ښـېرا) پـه مانـا هم دی؛ يوه حديث کې دي: اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ) مانا د مظلـوم لـه ښـرا ځان خوندي کړه.

د ميلمستيا په مانا هم دی، عرب وايي: هم في دعوة فلان، يعنـې: دوی د پلاني ميلمانه دي. يا: دعوة على العَشاء، مانا ماښام ته ميلمستيا ده.

او بله مانا يې بلنه ده. قران کريم وايي: {لَهُ دَعْـوَةُ الْحَـقِّ}. يعنـې دى حق ته بلنه کوي.[1]

يو بل ځاى هم وايي:

{قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ} [يوسف: ۳۳]

ژباړه: يوسف عليه السلام وويل: اې ربه! بنديخانه تر هغه څـه راتـه خوښه ده چې دوى مې ورته دعوتوي.

د اسلامي دعوت په اړه دوکتور رؤوف شـلبي پـه خپـل کتـاب کـې ليکي: حث الناس على الخير والهدى، والأمر بالمعروف والنهي عن المنكر، ليفوزوا بسعادة العاجل والآجل.[2]

ژباړه: خير او هدايت ته خلك هڅول، په ښو امر او لـه بـدو منعـه؛ څو دوى په دنيا او اخرت کې نيکمرغه شي.

**دويم مطلب:**

**د دعوت اهميت:**

لومړى به د قران کريم په ايت پيل وکړم:

---

[1] (معجم اللغة العربية المعاصرة، ۱۸۰۳ لغت، د دع و ماده: ۱/ ۷۴۹)

[2] الدعوة الإسـلامية في عهـدها المـكي مناهجهـا وغاياتهـا، البـاب الاول، منـاهج الـدعوة الاسلامية في عهدها المكي، الفصل الاول، منهج اثبات وحدانية الله تعالى، تهميـد حـول مفهوم الدعوه الاسلامية: (ص: ۲۲)

{الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ} [إبراهيم: ١]

ژباړه: الف لام راء، کتاب مو تاته د دې لپاره نازل کړی دی چې انسانان د دوی د رب په امر له تاريکيو رڼا ته په وباسې، د غالب او ستايلي (الله) لارې ته.

په دې ايت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر دعوت او د قران کريم پر اهميت رڼا اچول شوې ده. د قران نزول او په همدې سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم بلنه د دې سبب شوه چې په تياره کې پراته قومونه رڼا ته راشي؛ هغه اقوام چې د خپل ژوند په چارو نه پوهېدل، بيا يې نورو ته د ژوند د سمولو چارې ښودې، هغه چې تر خپل منځ يې شخړې کولې، بيا يې نورو ته د اتفاق او اتحاد هدايت کاوه.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دعوت اهميت په دې کې وو چې عرب يې نه يوازې د يوه نظام تر يوه چتر لاندې را ټولول، بلکې په ديني لحاظ يې هم يوه نوې مرجع ورته پيدا کوله چې د همدې تشې له امله به عرب اهل کتابو اميان بلل. رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه وخت کې هم د نظام تشه ډکوله او هم يې يوه ديني مرجع رامنځته کوله.د زرګونو کلونو له تېرېدو وروسته په داسې يوه حالت کې عربانو ته د خدای يو نعمت راغلی وو چې تر خپل منځ يې دښمنۍ اوج ته

رسېدلې وي، د بې نظامۍ له امله يې ځينې قبيلې د روم او فارس تابع وې او نورې بيا تر خپل منځ سره اخته وې. د عربو ژوند په يوه بيديا کې وو؛ له دې امله يې اقتصاد يا پر تجارت ولاړ او يا يې يو پر بل حملې کولې چې مالونه به يې ترې لوټل او په دې ډول به يوې قبيلې ځانته خوراکي توکي موندل.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت د دې ټولو بديو پر خلاف وو؛ هغه د يوه انسان د بې ځايه وژنې په اړه د قران کريم حکم بيان کړ چې د ټول انسانيت له قتل سره برابر دی، د مال لوټنې دا طريقه يې بده وګڼله او خلک يې د سولې او امن ژوند ته را وبلل. د انسانانو اهداف يې ور ستر کړل، دوی چې يوازې د مال لوټنې په هدف به يې يو پر بل حملې کولې، رسول الله صلی الله علیه وسلم تر دې ستر هدف ور کړ، هغه دوی ته د امن پيغام ور کړ او ورته وې ويل چې انسانانو د د هغوی د خالق پيغام ورسوئ، يو پر بل د ترحم او مهربانی پيغام، د خدای تر زياتو مخلوقاتو نازول شوي مخلوق ته دا رسالت ور تر غاړې شو چې د هغه پيغام به اخلي او په هره سيمه کې به يې ناخبرو انسانانو ته رسوي، د لنډ وخت لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم دا چاره عملي کړه او بيا يې همدا کار د امت پر غاړه پرېښود او قران کريم په دې ټکو انسانانو ته اعلان وکړ:

{وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَـأْمُرُونَ بِـالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَـوْنَ عَـنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (١٠٤) وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ}.

[آل عمران: ١٠٤، ١٠٥]

ژباړه: او هرو مرو دې ستاسو څخه داسې يوه ډله وي چې خير ته دعوت کوي، په معروف امر کوي او له بدو منعه کوي او همدوی بريالي دي. او داسې مه کېږئ لکه هغه چې ډلې- ډلې شو او تر هغه وروسته يې اختلاف وکړ چې روښانه دلايل ورته راغلو او همدوی ته ستر عذاب دی.

په دې ډول د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مهم دعوت چاره امت ته ور په غاړه شوه او تر ننه امت همدې ستر کار ته اوښه ور کړې ده او په مختلفو ډولونو د دې ستر مسووليت د ادا کولو کوښښ کوي. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دعوت يو اهميت په خپل وخت کې عربي ټولنې ته په بلنه کې دی چې هغه مهال يې ورته زياته اړتيا وه، بل اهميت يې په عموميت کې دی چې هم د خپل وخت ټولو قومونو ته عام وو او هم د زمانې په لحاظ عموميت لري چې لوړ ايت يې د دې ښه مثال دی.

## دويم مبحث

## نبوي دعوت

### اول مطلب:

### د نبوي دعوت پېژندنه:

قران کريم د رسول الله صلی الله عليه وسلم ﷺ په اړه وايي:

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا (البقره: ۱۱۹)

موږ ته له حق سره زيری او خبر ورکونکی لېږلی يې.

پر رسول الله صلی الله عليه وسلم ﷺ د نازل شوي قران کريم په اړه هم وايي:

كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ () بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لاَ يَسْمَعُونَ (فصلت: ۳، ۴)

ژباړه: داسې يو کتاب چې اياتونه يې په تفصيل بيان شوي، په عربي ژبه، د داسې قوم لپاره چې پوهېږي، زيری او خبر داری ورکوي، نو د دوی زياترو مخ ترې واړاوه، هيڅ يې نه اوري.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم ﷺ دعوت ټول د قـران کـريم پـر اصولو، امرونو او معيارونو ولاړ و؛ پاس وينو چې کوم صفت قران کريم ته کار شـوی دی، عينـي هغـه صـفت يـې د رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم ﷺ په اړه هم کار کړی دی. يو بل ځای هم قـران کـريم رسـول الله صلى الله عليه وسلم ﷺ ته وايي:

{وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ () لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ () ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ () فَمَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ} [الحاقة: ۴۴ - ۴۷]

ژباړه: که ده موږ ته ځينې خبرې منسوبې کړې، موږ به يې حتما پـه سختي ونيسو، بيا به يې د ملا رګ ور پرې کړو او له ده بـه يـې ستاسـو هيڅوک هم ونه شي ساتلای.

د شريعت او دين په برخه کې رسول الله صلى الله عليـه وسـلم ﷺ ټول کړه وړه د قران کريم د هداياتو موافق وو، که رسـول الله صـلی الله عليه وسلم ﷺ يو قدم هم له قران کريمه مخالفـت کـړی وای، نـو الله تعالی به حتما سزا ور کوله، کـه څـه هـم لـه رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم ﷺ په دې چارو کې د مخالفت هيڅ امکان نه شته، خو بيـا هـم الله تعالی خبرداری ور کړی دی او په دې ډول يې امت ته باور ور کړی دی چې دوی پر رسول د خدای د پيغام په رسـولو کـې بـاور وکـړي او هيڅ ډول شك و شبهې ته يې ځای نه دی ايله کړی. د نبوي دعوت او د قران کريم له هداياتو څخه د پيروي په اړه به په دې وړوکي کتابګوټي

کې بحث وکړو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم عملي تګلاره بـه هـم وڅېړو، د قران کریم لارښوونې به هـم را واخلـو او د نبـوي دعـوت لـه ابتدا تر انتها، له مکي دوره تر مدني، د جګړې له میدانه بیا د سولې تـر ډګره به په ټولو مجالاتو کې د نبوي دعوت په اړه تـر مختلفـو عنوانونـو لاندې بحثونه وکړو.

# دويم څپرکی

## لومړی مبحث

## د دعوت اړتیا

**اول مطلب:**

**په عربي ټولنه کې د نبوي دعوت اړتیا:**

د عربي ټولنې په اړه قران کریم وایي:

{وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ () بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ} [التکویر: ۸، ۹]

ژباړه: او کله چې له ژوندۍ ښخ شوې پوښتنه وشي چې په کومه ګنا قتل شوې ده؟

یو بل ځای هم وایي:

{وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا }.

[آل عمران: ۱۰۳]

ژباړه: او د الله نعمت ياد کړئ چې تاسو سره دښمنان وئ، نو ستاسو زړونو کې يې مينه پيدا کړه، د الهي نعمت په سبب ورونه شوئ او تاسو د اور د کندې پر غاړه وئ الله ترې وژغورلئ.

له دې دوو اياتونو موږ د هغه وخت د عربي ټولنې حالت معلومولای شو، په عربو کې نه يوازې دا چې تر خپل منځ يې سره وژل، بلکې ان خپلې لوڼې به يې هم ښخولې، قران کريم د دې علت هم په ګوته کړی دی:

{وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ () يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ} [النحل: ۵۸، ۵۹]

ژباړه: او کله چې د دوی پر يوه د ښځې زيرى وشي، نو مخ يې تک تور او له غوسې به ډک شو، له خلکو له دې امله پټ ګرزي چې بد زيرى پر شوی دی؛ ايا له ذلت سره يې وساتم او که ژوندۍ يې په خاورو ننباسم، خبردار! دوی پريکړه ډېره بده ده.

له دې ايت څخه معلومېږي چې عربو د انسانيت يوه برخه نه ګڼله، حتا هغه برخه چې له هغې خپله دوی هم پيدا شوي دي، اما که به د لور زيری پر وشو بيا به يې نه ګڼله. دلته بشريت کوټل کېده، انساني اخلاق پايمالېدل، د بشريت کرامت له منځه تللی وو، پر ډېرو وړو خبرو به د عربو د قبيلو په کلونو کلونو سره جنګونه وو؛ په دې وخت کې د خدای د رحمت تقاضا دا وه چې دا انسانان له دې حالت څخه وباسي، له دې وجې يې تر ټولو وروستی رسول ور ولېږه او د عربو قوم ته يې له دې سخت حالت څخه نجات ور کړ.

عربو قبيلوي ژوند کاوه، نه يې تر خپل منځ اتحاد در لود او نه يې د نورو نژدې امپراتوريو سره داسې تړون در لود چې نه به هغه پر دوی بريدونه کوي او نه به دوی تر خپل منځ جنګونو ته ايله کوي، له دې امله نو هيڅ نظام او قانون نه وو چې هغوی يې د انسانيت د وينې له تويولو منعه کړي وای. په عربي جزيره کې د بشريت خورا زياتې وينې توی شوې او لا هم دا لړۍ په زور روانه وه چې په ټوله جزيره کې د يوه رسول د راتلو اوازه خپره شوه.

**دويم مطلب:**

**د نبوي دعوت ځانګړتياوې:**

دا يوه طبيعي خبره ده چې د هرې زمانې او ټولنې به خپلې غوښتنې وي، همدا لامل وو چې پخواني شرايع به وخت پر وخت نوي کېدل. د

قران کريم په وسيله د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت هم له نورو پخوانيو اسلامي دعوتونو سره توپير در لود. د دې دعوت د ځينو مهمو ځانګړتياو په اړه به لاندې تر ځو سرليکونو لاندې وضاحت وکړم:

۱/ له اجرت پرته بلنه:

قران کريم پر دې زيات ټينګار کوي چې د الله لور ته دعوت بايد له هر ډول دنيوي فايدو او ګټو څخه خوندي او ګوښه وي. رسول يوازې دا کار د يوه ور سپارل شوي مسووليت او رسالت له مخې ترسره کوي چې په دنيا کې به هيڅ ډول مزدوري نه پر اخلي او يوازې د اخروي ثواب په تمه به دا چاره بشپړوي. الهي قول دی:

{فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ} [يونس: ۷۲]

ژباړه: نو که تاسو مخ اړوئ، زه د هيڅ مزدورۍ غوښتنه نه کوم زما اجر يوازې پر الله دی او ماته امر شوی دی چې لومړی مسلمان شم.

{قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَى رَبِّهِ سَبِيلًا}.

[الفرقان: ۵۷]

ژباړه: ووايه، زه له تاسو مزدوري نه غواړم مګر دا چې يو څوک خپل رب ته لار ومومي.

د دې ايت هدف دادی چې دنيوي مال و ثروت نه غواړم بلکې يوازې دا مې اساسي هدف دی چې انسانان د خپل رب لور ته لار پيدا کړي او پر هدايت شي. په قران کريم کې دا ډول اياتونه بيخي زيات دي، رسول الله صلی الله عليه وسلم په همدې اياتونو د عمل لپاره د رسالت په خپل ډول ژوندکې له هيچا د اجر تمه ونه کړه او همدا سپيڅلې دنده يې په پوره امانت او تقدس سرته ورسوله.

۲/ له نورو نبيانو سره په اسلامي دعوت کې مشترک نکات:

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت په ټولو اړخونو کې د نورو انبياؤ له دعوت سره توپير هم نه در لود، بلکې ترمنځ يې مشترک نکات هم شته، قران کريم وايي:

{وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ} [الأنبياء: ۲۵]

ژباړه: او تر تا مخکې مو هيڅ رسول نه دی لېږلی مګر وحې مو ورته کړې ده چې بېشکه هيڅ معبود نه شته مګر زه، نو زما عبادت وکړئ.

د انبياؤ په اړه يوځای رسول الله صلی الله عليه وسلم ته داسې امر کوي:

{أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ} [الأنعام: ۹۰]

ژباړه: همدوی هغه دي چې الله هـدايت کـړي نـو د همـدوی لاره تعقيب کړه.

دلته موږ وينو چې د تېرو نبيانو په اړه يـې رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم ته امر کړی دی چې د هغوی لار تعقيب کـړي، لـه دې ښـکاري چې په نبوي دعوت کې له نورو نبيانو سره ډېر مهـم مشـترک ټکـي وو چې مسلمانانو يې په پيروي مامور دي.

{قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَـا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ} [الأنعام: ۱٦۱]

ژباړه: ووايه، زه مې خپل رب سمې لارې ته هدايت کړی يم، چـې برابر ابراهيمي ديـن دی، پـه داسـې حـال کـې چـې ده يـو مخيـز د الله عبادت کاوه او مشرک نه وو.

دلته بيا هم دا خبره ثابتېږي چې په ديني چارو کې رسـول الله صـلی الله عليه وسلم د ابراهيمي دين پيروي کوله او دا يوازې زموږ د محمدي دعوت ځانګړتيا نه ده بلکې نور نبيان او رسولان هـم پـه دې مـامور وو چې د ابراهيم عليه السلام د دين پيروي وکړي، اما په شرعي چارو کـې بيا د وخت او ټولنې تقاضاوې په پام کې نيول کېدې چې له دې امله د شريعتونو ترمنځ توپيرونه هم جوت دي.

۳/ د دعوت عمومي کېدل:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت هم په خپل وخت کې عام وو او هم تر ده وروسته دا د ټول انسانیت لپاره عام دی، په یوه ایت کې دي:

{وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا} [سبأ: ۲۸]

ژباړه: او ته مو نه یې لېږلی مګر ټول انسانیت ته زیری او خبر ور کونکی.

یوه حدیث کې هم راغلي:

فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ: ... وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً.[۳]

ژباړه: ما ته پر انبیاؤ په شپږو شیانو فضیلت راکړل شوی... (یو له هغو دادی چې) زه ټول انسانیت ته لېږل شوی یم.

دا امتیاز دی چې یوازې رسوالله ته ور کول شوی دی، نو د نبوي دعوت یوه خاصه ځانګړتیا داده چې د ټول وخت لپاره دی او ټول بشریت ته دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل وخت کې نه یوازې د عربو ټول قبایل دعوت کړو، بلکې له عربو ماسیوا یې یهود،

[۳] ( صحیح مسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة باب جعلت لي الارض مسجدا و طهورا ح: ۵۲۳، ۱/ ۳۷۱).

نصارا، مجوس او اور پرستا هم اسلام ته وبلل. په دې ډوله يې ثابته کړه چې دا دعوت عام دی او تر يوه قومه پورې اړه نه لري. لکه رسـول الله صلی الله عليه وسلم چې په حديث کې د خپل ځان يو فضيلت پر نورو نبيانو همدا عموميت ياد کړی دی همدا شان قران کريم هم دوه ځايه په صراحت سره يادونه کړې ده چې د قران مخاطبين ټول انسانان دي چې په (کافه او جميع) الفاظو يې د همدې خبرې وضاحت کړی دی.

د قران کريم يو بل ايت چې د دعوت پر تلپاتې والي ټينګار کوي او د امت يوه ټولۍ په دې مکلفه بولي چې همـدا مسـووليت تـه اوږه ور کړي، دا ثابتوي چې نبوي دعـوت يـوازې د رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم تر ژونده خاص نه دی، بلکې د هغه تر مرګ وروسته به هم نبوي سنتو باندې پر هغه د نازل شوي کتاب په مټ همدا دعوت جـاري وي او تر قيامته به همدا لړۍ دوام ولري.

۴/ د جبر او زور منعه کېدل:

قران کريم په مکي او مدني سورتونو کې دا په ډاګه کړې ده چې د اسلامي دين دعوت يوازې د دليل او منطق له مخې وړاندې کېـږي نـه زور ته پکې ځای شته او نه بداخلاقۍ ته. د قران کريم ځينې لارښـونې دادي:

{لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ} [البقرة: ٢٥٦]

Www.sikaraam.com

ژباړه: په دين کې هيڅ اکراه نه شته، يقينا سمه لار له بدې بيله شوې ده.

{وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ}. [الكهف: ٢٩]

ژباړه: او ووايه، حق ستاسو د رب له لوري دی، نو که د چا خوښه وي باور دې وکړي او که د چا خوښه وه انکار دې وکړي.

{وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ} [العنكبوت: ٤٦]

ژباړه: او له اهل کتابو سره يوازې په ښه طريقه مجادله وکړه.

{ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ} [النحل: ١٢٥]

ژباړه: ستا د رب لارې ته په حکمت او ښه نصيحت بلنه کوه او له دوی سره په ډېر ښه ډول بحث کوه.

{قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي} [يوسف: ١٠٨]

ژباړه: ووايه، دغه زما لار ده؛ زه او زما پيروان د علم له مخې د الله لور ته بلنه کوو.

{فَبَشِّرْ عِبَادِ () الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ} [الزمر: ۱۷، ۱۸]

ژباړه: نو زما هغو بندګانو ته زيرى ور کړه چې خبرې اوري؛ بيا د هغه غوره خبرې پيروي کوي، همدا هغه دي چې الله هدايت کړي او همدوی د عقل خاوندان دي.

د قران کريم له دې هداياتو موږ ته ثابتېږي چې د دين او باور په اړه دومره ازادي په هغه وخت کې د هيڅ دين پيروان نه وه ور کړې او دا ورته ډېره جالبه هم معلومېده چې محمد صلی الله عليه وسلم څنګه او په څه ډول خپل لور ته خلك دعوتوي؟ دوی فکر کاوه چې د دين او باور په اړه يوازې د زور له لارې کېدلای شي چې خلك ځان ته تابع کړل شي او که زور نه وي ممکن ټول خلك له ديني پيروي مخ واړوي. اما رسول الله صلی الله عليه وسلم دا اټکل ناسم ثابت کړ او د ازادي په ور کولو يې نه يوازې مسلمانان ازاد پرېښودل بلکې د نورو شريعتونو پيروان يې هم په خپل څنګ کې ومنل او پوره مذهبي ازادي يې هم ور کړه. له هغوی سره يې په تړونونو کې هم دا ټکی ياد کړ چې زه ستاسو په ديني چارو کې مداخله نه کوم او که به هغوی کومه فيصله د رسول الله صلی الله عليه وسلم لور ته راوړه نو ده له هر ډول تردد پرته فيصله ور کوله او که به يې نه راوړه رسول الله صلی الله عليه وسلم پر هغوی جبر نه راويستی چې دی بايد د حکم يا پريکړه کوونکي په توګه

ومني. دا هغه امتیاز دی چې د هغې زمانې په ټولو شریعتونو کې یوازې اسلام ترې برخمن وو؛ لـه همـدې مثبتـو نکـاتو یـې د پرمختللـې نـړۍ اوسنیو انسانانو هم الهام واخیست او په خپلو ممالکو کې یې د مـذهبي او بیان د ازادۍ قوانین تصویب کړل چې زموږ دین او شریعـت سـوونه کلونه پخوا روا کړي وو.

۵/ تل پاتې والی

پخواني شریعتونه که د خپل وخت لپاره هر څومره کامل هم راغلي وای، خو د بل وخت اړتیاوې یې نه شوای پوره کولای، له دې امله نـو هغه موقت شرایع بولو؛ اما د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت هغـه دین او شریعت ته وو چې د ټول وخت لپاره خدای را لېږلي وو. قـران کریم یو ځای وایي:

{مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا} [الأحزاب: ٤٠]

ژباړه: محمد ستاسو د یوه سړي پلار نه دی، بلکې د خـدای رسـول او د نبیانو ختمونکی دی او الله په هر څه پوه دی.

په یوه حدیث کې هم راغلي:

وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ.[٤]

ژباړه: او پر ما نبوت ختم شوی دی.

پاس دوه نصوص دا ثابتوي چې نبوت نور ختم شوی دی، نو چې نبوت ختم شو حتمي خبره ده چې همدا نبوي دعوت به نور د امت کسان پر غاړه اخلي او تر ابده به همدې مسوولیت ته اوږه ور کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي:

فَلْيُبْلِغِ الشَّاهِدُ الغَائِبَ.[٥]

ژباړه: نو حاضر دې (زما دا پیغام) غایب ته ورسوي.

رسول الله چې دا دنده د اصحابو پر غاړه ور کړې ده همدا مطلب افاده کوي چې نور نبوت ختم شوی او دا مسوولیت باید امت پر غاړه واخلي له دې امله یې اصحابو ته همدا خپله وظیفه ور یاده کړه. لکه چې قران کریم هم د دې خبرې داسې یادونه کړې ده:

{وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ} [آل عمران: ١٠٤]

---

[٤] (صحیح مسلم، کتاب المساجد و مواضع الصلاة باب علت لي الارض مسجدا و طهورا ح: ٥٢٣).

[٥] (صحیح البخاري، کتاب الحج باب الخطبة ایام منی ح: ١٧٣٩).

Www.sikaraam.com

ژباړه: او هرو مرو دې ستاسو يوه داسې ټولی وي چې خير ته بلنه کوي.

دلته بيا ثابته شوه چې د انبياؤ کار د امت يوې ډلې ته سپارل شوی دی او دا پر دې دلالت کوي چې نبوي دعوت تلپاتی دی او يوازې د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر زمانې محصور نه وو؛ بلکې تر هغو چې دلته انسانان وي نو يوه ډله به همدا مسووليت لري چې الهي لور ته انسانان دعوت کړي او د نبوي دعوت دا ځانګړتيا ژوندۍ وساتي.

٦/ د دعوت د اساسي سرچينو ساتنه

دا هم يوه له هغو مهمو ځانګړنو څخه ده چې نور شرايع ترې برخمن نه وو؛ نه يوازې دا چې د قران او سنت د ساتنې وعده او ژمن يې الله کړې ده بلکې د رسول د ساتنې او حفاظت ژمنه يې کړې ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل ټول جرأت د اسلامي شريعت تبليغ وکړ او تر ده وروسته د دې تبليغ د ضايع کېدو خطر قران کريم په دې ډول منفي کړ:

{ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ} [الحجر: ٩]

ژباړه: بېشکه موږ ذکر نازل کړی دی او هرو مرو يې موږ ساتنه کوو.

{ يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ} [المائدة: ٦٧]

ژباړه: اې رسوله! هغه څه ورسوه چې تاته دې د رب له لوري نازل شوي دي، که دې دا کار ونه کړ نو خپل رسالت دې نه دی پوره کړی او الله دې له خلکو ساتنه کوي.

په دې دوو ژمنو الله تعالی مخلوق ته ډاډ ور کړ چې نه رسول له ډاره کوم څه ایله کړي دي او نه هغه اساسي سرچینې داسې دي چې څوک پکې لاسوهنه وکړي. د رسول له زمانې بیا تر هغه وخته چې د دې نړۍ بیخي وروستۍ شیبې وي، د اسلامي دین او شریعت د دعوت همدا اساسي سرچینې به همداسې خوندي پاته وي او مسلمانان په پوره ډاډ کولای شي چې اسلام ته د دعوت په لار کې له دې دواړو استفاده وکړي.

که څه هم په قران کریم یوازې د ذکر یادونه شوې ده او له ذکر څخه قران کریم هدف دی، اما سنت د هغه د شرحې په توګه کولای شو چې د ساتنې په وعده کې یې داخل وګڼو. هر کتاب د هغه رسول له عملي شرحې پرته د امت د پوهاوي وړ نه دی، له دې امله نو اړینه ده چې شرحه یې ورسره وساتله شي چې امت له کتاب او شرحې یې په خپل ژوند کې ګټه واخلي.

## دويم مبحث

## دعوتي اصول

**اول مطلب:**

**په شريعت كې د اسلامي دعوت اصول:**

۱/ حكمت او ښه نصيحت

د دعوت په لار كې دا د ډېر مهم اصل دی چې قران كريم خپل رسول هم په مامور كړی دی:

{ ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ} [النحل: ۱۲۵]

ژباړه: ستا د رب لارې ته په حكمت او غوره نصيحت بلنه كوه.

حكمت موږ په ورځنيو خبرو كې هم استعمالوو، دلته يې هدف دادی چې د هر مكان، زمان او د خلكو له فهم او د هغه د درك په اندازه خبرې او مسووليت بايد ور له غاړې شي. ښه نصيحت دادی چې

تعبير يې سم وي، جملې يې مناسبې وي، د بيان انداز يې موثر وي او د نفرت پر ځای د نژدېکت سبب شي.

۲/ په احسنه طريقه مباحثه

د بحث په اړه هم قران کريم دا اصل ايښی دی چې بايـد ډېـره ښـه وي، له دې سره يې د ښو کسانو صـفت دا بيـان کـړی چـې د غـوره او سمې خبرې پيروي کوي، الهي وينا ده:

{وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ} [النحل: ۱۲۵]

ژباړه: او له دوی سره په ډېره ښه طريقه بحث وکړه.

بيا هم وايي:

{ فَبَشِّرْ عِبَادِ () الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ}.

[الزمر: ۱۷، ۱۸]

ژباړه: نو زما هغو بندګانو ته زيری ور کړه چې خبرې واوري او د ښو خبرو پيروي وکړي.

په پاس اياتونو کې موږ وينو چې لومړی د ښه بحث امر شوی دی، بيا دا ويل شوي دي چې غوره کسان هغه دي چې ښه خبر واوري او بيا يې ومني، هغه مباحثه يوازې د وخـت ضـياع ده چـې صرف يـو د بـل

Www.sikaraam.com

پړول يې هدف وي او هيڅوک هم د بل خبره نه مني كه هر څومره ښه هم وي، قران كريم په دې زيري سره چې د ښې خبرې پيروي د خداى د ښو بندگانو صفت دى مسلمانان د وخت له ضياع او بې گټې مباحثو څخه منعه كړل، لكه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هم ويلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللهَ يَرْضَى لَكُمْ ثَلَاثًا، وَيَكْرَهُ لَكُمْ ثَلَاثًا، فَيَرْضَى لَكُمْ: أَنْ تَعْبُدُوهُ، وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا، وَيَكْرَهُ لَكُمْ: قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةِ الْمَالِ " .[٦]

ژباړه: ابوهريره ويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى الله عليه وسلم وويل: بېشكه الله تعالى تاسو درې(شيان) خوښوي او درې درته بد گڼي. تاسو ته د خوښوي چې د ده عبادت وكړئ او هيڅ شى ورسره شريك نه كړئ او دا چې د الله په رسۍ منگولې ښخې كړئ اختلاف مه كوئ، تاسو ته بې گټې خبرې، زيات سوالونه او د مال ضايع كول؛ بد گڼي.

په دې حديث كې مو وليدل چې بې گټې خبرې د مسلمان لپاره د الله نه دې خوښې له دې امله يې د ښې مباحثې امر كړى دى او همدا راز يې ويلي چې ښه خبر كه واورئ او پيروي وشي دا د الله د غوره

---

[٦] (صحيح مسلم كتاب الاقضية باب النهي عن كثرة المسائل من غير حاجة... ح: ١٧١٥)

Www.sikaraam.com

بندگانو صفت دی. په دې ډول يې مومنان هڅولي دي چې په هر صورت له بې ځايه بحثونو ډډه وکړي او تر وسه ګټور او پر ځای بحثونه وکړي چې هم يې دوی ته ګټه ورسېږي او هم ټولنې ته. رسول الله صلی الله عليه وسلم په حديث کې د همدې اياتونو سهي ترجماني کړې ده او موږ ته يې دا خبره نوره هم روښانه کړې ده.

۳/ نرمي

داعي که سختي وکړي او اخلاق يې کمزوري وي، نو که هر څونه ښه داعيه يې را خيستې وې، بيا هم خلک ځان ترې ساتي او نه غواړي چې همدا ښه داعيه يې ورسره تاييد کړي. قران کريم همدا ټکی واضح کړی:

{ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ} [آل عمران: ۱۵۹]

ژباړه: د الهي رحمت له امله ته دوی ته نرم شوی يې، او که ته بد اخلاقه او سخت زړی وای، نو دوی به دې له شاوخوا پاشل شوي وای، ښښنه ورته کوه، مغفرت ورته غواړه او په چارو کې مشوره ورسره کوه.

همدا شان د رسول الله صلی الله عليه وسلم مختە عايشې رضي الله عنها سختې خبرې وکړې، ده ورته وويل:

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عَائِشَةُ، إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ.[7]

ژباړه: نو رسول الله صلی الله علیه وسلم صلی الله علیه وسلم وویل: اې عایشې! بېشکه الله په ټولو چارو کې نرمي خوښوي.

دعوت تر بل هر کار همدې اصل ته زیاته اړتیا لري، له دې امله قران کریم په خورا واضحو الفاظو د دې اهمیت بیان کړی دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې امر کړی دی چې که اخلاق دې ښه نه وای او زړه دې سخت وای، نو حالت به دې هم له دې څخه بدل وای، دا نو امت ته لارښونه ده چې که هر څوك د دعوت په لار کې بد اخلاقي وکړي په خپل کار کې به بریالی نه وي او یوازې د ځان ستړیا به وګالي خو لاسته راوړنه به ونه لري.

۴/ توکل

قران کریم کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امر شوی دی:

{فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ} [آل عمران: ۱۵۹]

[7] (سنن الترمذي ابواب الاستئذان والاداب باب ماجاء في التسليم على اهل الذمة ح: ۲۷۰۱)

ژباړه: نو که دې پخه اراده وکړه پر الله توکل کوه، بېشکه الله توکل کوونکي خوښوي.

یو بل ځای هم وایي:

{وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ} [آل عمران: ۱۶۰]

ژباړه: او مومنان پر الله توکل کوي.

همدې دوو ایاتونو کې موږ ته د توکل اهمیت معلوم شو چې قران کریم نه یوازې د مومنانو خاصیت همدا ښودلی دی بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې هم امر کړی دی چې پر الله باید توکل ولري. په دعوت کې بیا توکل خاص اهمیت لري، ځکه دا یوه خورا اوږده اوله کړاونو ډکه لار ده، ژر ممکن پکې لاس ته راوړنې نه وي، مشکلات پکې زیات وي او داسې هم کیدای شي چې یا بیخي ملګري ونه لري او یا که وي کم وي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې په لومړي سر کې یوازې وو او بیا یې په مکې دور کې ملګري کم وو؛ که هغه په دې سختو شرایطو کې پر الله توکل نه درلودلای، نو خدای خبر چې دا نبوي دعوت به تر کومه ځایه رسیدلی وای، همدا د توکل نتیجه ده چې انسان ته معنوي ډاډ ور کوي او که په دنیا کې هیڅ لاسته راوړنه نه وي د اخرت په تمه هم کار ته دوام ور کوي.

۵/ پر دعوت اجرت نه اخیستل

د ټولو انبیاؤ سنت دا وو چې پر دعوت یې اجرت نه غوښتی، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم الله تعالی په دې مامور کړی دی او په خپل ټول ۲۳ کلن د رسالت په دوران کې یې پر همدې کار اجرت طلب نه کړ او یوازې د الهي ثواب په تمه یې خپل ور سپارل شوی کار په پوره امانتداري پوره کړ. قران کریم وایي:

{وَيَا قَوْمِ لاَ أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالاً إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ} [هود: ۲۹]

ژباړه: او اې زما قومه! زه پر دې له تاسو مال نه غوام زما اجر یوازې پر الله دی.

بل ځای هم وایي:

{ قُلْ مَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ} [سبأ: ٤٧]

ژباړه: ووایه، هغه چې ما له تاسو د اجر په توګه غوښتی، هغه ستاسو دی، زما اجر یوازې پر الله دی چې هغه پر هر شي حاضر دی.

د ایت مطلب دادی چې زه اجرت نه غواړم، دا کار یوازې د یوه رسالت په توګه کوم او له الله څخه د خپل اجرت تمه لرم چې انسانان یې هغه ډول بدله نه شي راکولای، او که څوك فکر کوي چې زه

اجرت غواړم، هغه اجرت يې د هغه او زه يې هم نه طلبوم زما اجرت به ماته خپل رب راکوي.

٦/ په دعوت کې تدريج مرعاتول

د قران کريم په **٢٣** کاله کې نزول موږ ته دا مهم اصل را ښيي چې په دعوت کې تدريج لازمي دی. منکرينو هيله در لوده چې قران په يوه پلا نازل شي، دا يې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د نښې په ډول غوښتل چې که د خدای رسول يې نو کتاب دې بايد په يو ځل نازل شي، قران کريم د دې داسې ځواب کوي:

{ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا} [الفرقان: ٣٢]

ژباړه: او منکرينو ويل: کاش دا قران پر هغه په يوه پلا نازل شوی وای! (الله وايي په تدريجي نزول يې) موږ ستا زړه ټينګوو او قران لږ لږ نازلوو.

همدې اصل ته په کتو، رسول الله صلی الله عليه وسلم معاذ بن جبل ته لارښوونه وکړه چې په يمن کې به په تدريجي ډول اهل کتابو ته دعوت ور کوي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: «إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوكَ لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوكَ لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ، وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوكَ لِذَلِكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ».[۸]

ژباړه: له ابن عباسه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله معاذ یمن ته لیږه، نو ورته وې ویل: ته د اهل کتاب یو قوم ته ورځې، دوی دې ته دعوت کړه چې له الله پرته بل معبود نه شته او زه د الله رسول یم، که دوی په دې کې ستا اطاعت وکړ، بیا یې پوه کړه چې الله په یوه ورځ او شپه کې پنځه لمونځونه پر دوی فرض کړي دي، که دوی په دې کې ستا اطاعت وکړ، بیا یې پوه کړه چې الله د دوی په مالونو کې زکات پر فرض کړی دی، د دوی له شمتنو به اخیستل کیږي او بې وزلانو ته به یې ور کول کیږي، که دوی په دې کې ستا اطاعت وکړ، نو د هغوی له غوره مالونو ځان ساته او د مظلوم له ښرا ځان ګوره، بېشکه چې د الله او دې ښرا تر منځ هیڅ پرده نه شته.

[۸] (سنن ابي داؤد کتاب الزکاة باب في زکاة السائمة ح: ۱۵۸۴)

په دې حديث کې موږ وينو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم همدا د تدريج اصل په عملي ډول په پام کې نيولی دی او اصحاب هم په دې امر کوي چې په يو ځل د احکامو په بيانولو خلك په تکليف نه کړي، له دې امله يې لومړی د توحيد د بلنې ورته ويل، بيا يې د لمانځه، وروسته د زکات او همداسې نور احکام په بل اوږده حديث کې دي.

په يوځل د زياتو احکامو بيان پر خلکو مشکل راولي، انسان زيات کمزوری دی او طبيعي ډول يې لتيي خوښېږي، که په يوځل احکام او مسايل ورته وزيات شي، نو ممکن چې د تعميل پر ځای د انکار لور ته مخه کړي او دعوت د ښه پر ځای منفي نتيجه ور کړي. له دې امله نو په دعوت کې د تدريج اصل مهم دی چې ډېره توجو بايد ورته وشي.

۷/ پيغام په واضح ډول رسول

هر متکلم په دې مکلف دی چې خپلې خبرې سپينې وکړي او خپل مخاطب ته پيغام په سم او روښانه ډول ورسوي، قران کريم هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه ويلي دي:

{فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ} [النحل: ۳۵]

ژباړه: نو پر رسول يوازې واضح پيغام رسول دي.

قران کریم د دې پاس ایت په شمول ۱۱ ځایه دا خبره تکرار کړې ده، په دې ډول یې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په دې پوه کړی چې پیغام یې باید روښانه وي او امت ته یې هم دا پیغام ور کړی دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مسوولیت یوازې روښانه پیغام دی، نور حساب او د هر عمل په مقابل کې ثواب یا عذاب د الله تعالی کار دی چې هر انسان ته به یې د هغه د اعمالو موافق ور کوي.

**دویم مطلب:**

**انساني ټولنې ته د دعوت ګټې:**

په انساني ټولنه کې د علم او عقلانیت ورو او سستې ارتقا د دې غوښتنه کوله چې بشر باید له یوې بلې مرجع راهنمایي شي چې د ژوند سم لیدلوری ومومي، نه یوازې په دنیا کې له کړاونو خلاص شي، بلکې اخرت یې هم جوړ شي. له دې امله د کایناتو خالق د انسانانو بیلابیلو ټولنو ته په بیلابیلو وختونو کې خپل استازي لېږلي دي چې خلک سم لور ته رهبري کړي، قران کریم وایي:

{وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا} [النحل: ۳۶]

ژباړه: او یقینا موږ هر امت ته رسول لېږلی دی.

د رسول کار په هره بشري جامعه کې د ټولو هغو کړنو خلاف دعوت و چې خلک یې له الهي لارې بندول، د خدای پر مخلوق به ظلم

کیده، د الهي دین پر ځای د مخلوق په لاس جوړ داسې ظالمانه قوانین نافذ وو چې بشریت به ترې په تنګ و، قران کریم یې په اړه وایي:

{إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ} [القصص: ٤]

ژباړه: بېشکه فرعون په ځمکه کې لویي وکړه، د ځمکې اهل یې پر ډلو وویشه، له دوی څخه یې یوه ډله کمزورې کوله، د هغوی نارینه اولادونه یې ذبح کول او ښځې یې ژوندۍ ساتلې، بېشکه هغه له مفسدانو څخه و.

که په دې ایت کې فکر وکړو، نو فرعون له بني اسرائیلو سره له دې امله ظلم او زیاتی کاوه چې هغوی د مصر اصلي اوسېدونکي نه وو؛ فرعون د خپل قووت او ثورت له مخې پر هغوی ظلم کاوه، نه یې د ژوند لومړي بشري حقونه ور کول او نه یې خوشي کول چې له دې ځای څخه هجرت وکړي.

هر وخت چې په ټولنه کې دغه ډول وضعیت تر سترګو شوی، نو الله تبارك وتعالی د خپل رحمت او پیرزوینې له مخې انسانانو ته کتاب رالېږلی، د خپل رسول په ژبه او عمل یې تشریح کړی دی چې څوك سبا د نه پوهاوي یا تر وس د لوړو احکامو دعوه ونه کړي، قران کریم وایي:

{كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ} [إبراهيم: ١]

ژباړه: دا يو ستر كتاب دى چې موږ تاته د دې لپاره نازل کړی چې انسانان له تيارو روښنايي ته د هغوی د رب په حکم وباسې، (هغه نور) د غالب ستايل شوي ذات لار ده.

د قران کريم دې څرگنده کړه چې د الهي استازو دعوت ټولنې ته دا گټه در لوده چې د ژوند له سختو شرايطو ستړو ولسونو او پرگنو ته يې د ژوند نوې هيلې ور کولې، د انسان لـه غلامـۍ بـه يـې د انسـانانو ټولنـه خلاصه کړه، د خدای مخلوق تر دې لوړ وبالـه چـې د انسـانانو بنـدگي وکړي، انبياء عليهم السلام به هغوی د الله لور ته رابلل، له بدو يې منعـه کول، هغه چارې يې ورښودې چې د هغوی د دنيا او اخـرت ژونـد پـه جوړ شي. دغه مفاهيم په قران کريم کـې بيخـي زيـات پـه مکـرر ډول راغلي دي چې دلته يې د راوړلو اړتيا نه وينم.

# درېیم څپرکی

## لومړی مبحث:

## په مکه کې دعوت

### اول مطلب:

### په مکه کې د نبوي دعوت مرحلې:

په دعوتي مرحلو کې له پیله تر پایه څو دورې شته. مکي حالت هم څو دورې لري او مدیني هم. د الرحیق المختوم د لیکوال په انـد چـې مکي دور درې پړاوه لري چې لومړی درې کلن یې سري(پټ) دعوت وو، دویمه دوره یې د څلورم کال له پیله بیا د لسم کال تر اخره په مکه کې د دعوت اعلان او اظهار وو او درېـیم پـړاو کـې بیـا لـه مکـې بهـر

دعوت وو چې دې مرحلې هم درې کاله نيولي دي ځکـه چـې رسـول الله صلی الله عليه وسلم په مکه کې ټول ۱۳ کاله دعوت کړی دی.[۹]

**الف: پټ دعوت:**

تر هغه وروسته چې پر سول الله باندې وحې نازلـه شـوه، رسـول الله صلی الله عليه وسلم لومړی پټ دعوت پيل کړ. هغه کسان چې ډېر باور يې پر در لود هغوی يې اسلام ته دعـوت کـړل. خپلـه ميـرمن خديجـه الکبری، ابو بکر الصديق، د اکا زوی علي المرتضی او زيد بن حارثه د دعوت په لومړۍ ورځ باندې ايمانونـه راوړي دي. ښـاغلی مبـارکپوري په خپل کتاب کې د الرعيل الاول تر عنوان لانـدې همـدا کسـان يـادي کړي چې د دعوت په لومړۍ ورځ يې د رسول الله صلی الله عليه وسـلم بلنې ته لبيک ويلی دی.[۱۰]

په يادو کسانو کې ابوبکر شتمن او د نفوذ خاوند وو؛ هغه پـه خپلـه بلنه څو کسان اسلام ته راوسـتل چـې عـثمان بـن عفـان، سـعد بـن ابي وقاص، عبد الرحمن بن عوف، زبير بن عوام او طلحه بن عبيد الله دي. دا هغه کسان دي چې په لومړۍ مرحله کې يې تر نورو مخکې د اسلام بلنه منلې ده او نبوي دعوت ته يې مثبت ځواب ور کړی دی.[۱۱]

---

[۹] (الرحيق المختوم، ادوار الدعوة و مراحلها، ۱ الدور المکي: ۱/ ۶۴)

[۱۰] (السيرة النبويه علی ضوء القران والسنة، الفصل الثاني اطوار الـدعوة الـی الاسـلام، بـدء دعوة السرية: ۱/ ۲۸۴)

[۱۱] (سيرة ابن هشام ذکر من اسلم من الصحابة بدعوة ابي بکررض: ۱/ ۲۵۰)

د مبارکپوري په وينا چې د پټ دعوت په لړ کې تر ۴۰ پوري کسانو ايمان راوړی دی او د ابن هشام په سيرت کې هغه د هر يوه د نسب په اړه هم بحث کړی دی. په دې دور کې ابن هشام او مبارکپوري دواړه وايي چې اصحابو به لمنځونه پټ کول ځکه دعوت سري وو او دوی نه غوښتل چې د مکې ستر مشران يا عوام په خبر شي له دې امله يې هم بلنه خلکو ته پټه رسوله او هم يې خپل عبادت پټ کاوه. د ابن هشام له وينا سره سم چې يوه ورځ سعد بن ابي وقاص له څو کسانو سره په يوه شله کې لمونځ کاوه چې د مکې څو کسانو وليدل، پيغورونه يې ور کړل او خبره شخړې ته ورسېده چې د سعد په يوه ګوزار يو مشرك زخمي شوی دی او دا لومړی وينه ده چې د دعوت په لار کې توی شوې ده.[۱۲]

البته دا مرحله داسې نه وه چې مکيان دې په هيڅ شي خبر نه وو؛ بلکې هغوی هم خبر وو او دا ګنګوسې دوی ته رسېدلې وې چې محمد صلی الله عليه وسلم د يوه نوي دين دعوه کړې ده. زياته توجو يې ورته ونه کړه ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته دعوت جهري کړی نه وو، اما بيا يې هم تجسس پسې کاوه چې دوی څه کوي؟ په مکه کې مخکې هم ځينو کسانو د دين په اړه خبرې کړې وې لکه: اميه بن ابي صلت، قس بن ساعده، عمرو بن نفيل او نور. دې

[۱۲] (سيرة ابن هشام، خروج الرسول باصحابه الى شعاب مکه و مافعله سعد: ۱/ ۲۶۳)

کسانو يوازې د خدای په اړه ځينـې بحثونـه کـول، مکيـانو د رسـول الله صلی الله عليه وسلم دعوت د همدې کسانو ادعاوو ته ورته باله لـه دې امله يې هم ډېره توجو ورته نه کوله. خو بيا هـم لکـه مخکـې چـې مـو وويل، څارنه يې کوله او له بامه بـه يـې د هغـه او ملگـرو د وتلـو لارې څارلې چې دوی کوم لور ته ځي او څه کوي؟ له دې امله يو ځل سعد له څو کسانو سره د عبادت مهال مخ شو او بيا رسول الله صلی الله عليـه وسلم و علي رض ابو طالب وليدل. دا پيښې ممکـن تصـادفي نـه وي، بلکې دوی په ارادي ډول هغه لور ته تللي وي چې اصحاب يـا رسـول الله صلی الله عليه وسلم به تلی او تر شا يې همـدا کسـان پسـې ورغـلي وي.[١٣]

## ب: د دعوت څرگندېدل:

د لومړۍ دورې تر بشپړېدا وروسته چې له رسول الله صـلی الله عليـه وسلم سره د مکې ځينې مخور، بې وزله، غلامان او ښځې ملگري شو، الله تعالی امر ورته وکړ چې دعوت نـور جهـري کـړي، قـران کـريم پـه سورت شعراء کې ورته وايي:

{وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ} [الشعراء: ٢١٤]

ژباړه: او له خپله خيله دې نژدې خپلوانو ته خبر ور کړه.

---

١٣ (الرحيق المختوم ادوار الدعوة ومراحلها، الخبر يبلغ الى قريش اجمالا: ١/ ٦٧)


Www.sikaraam.com

د دې حکم د تعمیل لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم د بني هاشم ۴۴ کسان را غونډ کړل. په دې مجلس کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ابو لهب تیزي خبرې وکړې، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې هیڅ ځواب ور نه کړ، دویم ځل یې بیا هم راوبلل او داسې خطبه یې وویله:

الحمد لله أحمده، وأستعينه، وأومن به، وأتوكل عليه، وأشهد ألاإله إلا الله وحده لا شريك له.[١٤]

تر خطبې وروسته یې خبر ور کړ چې زه تاسو او ټولو خلکو ته رسول راغلی یم. د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر خبرو وروسته ابوطالب ورته د ملاتړ ټينګ وټپاوه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرې یې تصدیق کړې خو د ځان لپاره یې د خپل پلار دین غوره وباله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د پوره ملاتړ ډاډ ور کړ. تر ابو طالب وروسته یې بل تره ابو لهب ورته وویل: دا ډېره بده ده، تر دې مخکې چې نور عرب یې مخه ونیسي- خپله یې مخه ډب کړئ. ابو طالب ورته وویل: په خدای قسم! تر څو چې موږ یو نو ساتنه به یې کوو.

[١٤] الرحيق المختوم (ص: ٦٩)

Www.sikaraam.com

رسول الله په دې هم بسنه ونه کړه، بلکې يوه ورځ د صفا غونډۍ ته پورته شو او د مکې خلکو ته يې داسې اواز وکړ: «يا صباحاه»!

تر دې اواز وروسته يې د خيلونو نومونه اخيستل:

«يا بني فهر!. يا بني عدي! لبطون قريش»!

رسول الله خلکو ته لومړی وويل: که د يوه لښکر په اړه خبر درکړم چې پر تاسو بريد کوي، نو رښتنی مې ګڼئ؟ دوی وويل: هو، ځکه تـا هر وخت رښتيا ويلي دي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل:

«فإني نذير لكم بين يدي عذاب شديد»

زه تاسو ته د راتلونکي عذاب خبر درکوم.

ابو لهب ورته بيا هم وويل:

تبا لك سائر اليوم. ألهذا جمعتنا؟ فنزلت تَبَّتْ يَدا أَبِي لَهَبٍ.[١٥]

ژباړه: ټوله ورځ دې خرابه شه، همدې ته دې را غونډ کړي وو؟ نو د تبت يدا ابي لهب اياتونه نازل شو.

---

[١٥] الرحيق المختوم ادوار الدعوه:(ص: ٦٩)، (فقه السيرة، جهاد الدعوة (في مكـه)، اظهـار الدعوة: ١/ ١٠٤)

**دويم مطلب:**

**له مکي بهر دعوت:**

قران کريم په احکامو کې تدريج ته زياته پاملرنه کړې ده؛ د دعوت په برخه کې يې هم دا اسلوب له ورايه ځرګند دي. دعوت د هر فکر اساس دی، هر فکر، دين او شريعت ته په بلنه خلك راوستل کېږي، تر هغه وروسته چې رسول الله صلی الله عليه وسلم نژدې کسان په اعتماد کې واخيستل د خپلو ملګرو يوه وړه ټولی يې جوړه کړه، نو په خپلې کورنۍ يې شروع وکړه چې د عربو نظام ټول قبيلوي وو او هغه چا د بريا زيات چانس در لود چې د خپلې کورنۍ او قبيلې ملاتړ ورسره وای. رسول الله صلی الله عليه وسلم د قران کريم تر امر وروسته خپل نژدې قريبان دعوت کړل او د دې مسووليت تر اداينې وروسته يې له مکې بهر انسانانو ته مخ واړاوه. علي محمد الصلابي وايي:

ثم جاءت مرحلة أخرى بعدها، فأصبح يدعو فيها كل من يلتقي به من الناس على اختلاف قبائلهم وبلدانهم ويتبع الناس في أنديتهم، ومجامعهم ومحافلهم، وفي المواسم ومواقف الحج، ويدعو من لقيه من حر وعبد، وقوي وضعيف، وغني وفقير.[١٦]

ژباړه: تر دې وروسته يو بل پړاو راغی، په دې مرحله کې چې به هر څوك ورسره مخ کېدل هغه ته يې بلنه ور کوله که څه هم د مختلفو

---

[١٦] السيرة النبوية عرض وقائع وتحليل أحداث(ص: ١٢١)

Www.sikaraam.com

قبیلو او ښارونو بـه وو. رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم بـه د هغـوی د مشورو، غونډو او خوښیو مجلسو ته ورتلی، همدا شان په نورو وختونو او د حج په وخت کې خلکو ته ورتلی، هر څوك که ازاد که و مریبی، پیاوړی وو که کمزوری، شتمن وو که بې وزله، ټولو ته یـې دعـوت ور کاوه.[١٧]

دوکتور رؤوف شلبي هم کاږي:

قال ابن هشام: "كان رسول الله صلى الله عليه وسلم - صـلى الله عليـه وسلم- يعرض نفسه في المواسم على قبائل العرب يدعوهم إلى الله, ويخـبرهم أنه نبي مرسل.[١٨]

ژباړه: ابن هشام ویل: رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم پـه مختلفـو موسونو کې عربي قبایلو ته ورتلی، دوی به یې الله تـه رابلـل او دا خـبر یې ور کاوه چې دی د خدای لېږلی شوی رسول دی.

مبارکپوي لیکي:

---

[١٧] (السيرة النبوية عرض وقائع وتحليل احداث الفصل الثالث الجهـر بالـدعوة... المبحـث الاول الجهر بالدعوة: ١/ ١٢١)

[١٨] الدعوة الإسلامية في عهدها المكي مناهجها وغاياتها (ص: ٣٢٠).

في شوال سنة عشر من النبوة (في أواخر مايو أو أوائل يونيو سـنة ٦١٩ م) خرج النبي صلى الله عليه وسلم إلى الطائف، وهـي تبعـد عـن مكـة نحـو ستين ميلا.

د نبوت په لسم كال د شوال مياشت چې د مې له اخر يا د جـون لـه پيل سره سمون لري د ٦١٩ م كال كې رسول الله صلى الله عليه وسـلم د طائف لورته ولاړ، طائف له مكې څخه شپيته (٦٠) ميله واټن لري.[19]

د مباركپوري په وينا رسول الله صلى الله عليه وسلم لس ورځې هلتـه پاته شو، د سيمې په كچه مشران يې وليدل او د الهي ديـن دعـوت يـې ور كړ، اما ټولو انكار وكړ او له سيمې يې د وتلو امر ورته وكړ. نه يوازې دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې له سـيمې د وتلـو امـر وكـړ بلكې ماشومان او ځينې احمقان يې ورپسې خوشي كړل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په تيږو وويشـت او لـه پښـو يـې وينـې روانـې شوې.

له مكې ښه لرې دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم لـومړی دعـوت وو، كه څه هم هغه د مكې شاوخوا نور قبايل را دعوت كړي وو د حج يا تجارتي مسمونو مهال يې هم د لرو قبايلو خلكو ته بلنه ور كوله اما دا

[19] الرحيق المختوم (ص: ١١٣)

Www.sikaraam.com

يې په خپله له مکې څخه شپیته میله لرې لومړی سفر وو چې له ناکامۍ سره مخ شو.

**پایله:**

رسول الله د امت لپاره یوه الګو (نمونه) ده؛ د هغه دغه ډول تګلاره د امت لپاره په همدې لار کې یو غوره مشال کېدای شي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه عمل نه منسوخ دی او نه په اسلام کې په یوه ځل پر خلکو د احکامو بارول شته، رسول الله صلی الله علیه وسلم له همدې امله نه په یوه ځل ټول احکام بیانول او نه یې په یوه ځل ټول خلك بلل. د دې لپاره چې نه پر خلکو بوج راولي او نه مسلمان امت په مشکل کې واقع شي، خورا سوله ییزه او تدریجي تګلاره یې اخیستې وه چې هم مسلمانان سبا وتوانېږي دا تګلاره وساتي او هم هغه کسان په مشکلاتو کې را ګیر نه شي چې اسلام ته را بلل کېږي.

مسلمانان دې د دعوت مهال کله هم په یوه پلا له ټولو خلکو سره ځانونه نه اخته کوي او نه دې د ټولو منکراتو په اړه خپل دریځ ښکاره کوي، بلکې لومړیتوبونه دې وټاکي او هر شی چې تر نورو اولویت ولري هغه دې تر نورو مخکې کړي او بیا دې په همدې ډول خپل دعوتي کار مخته یوسي.

په دې ډول به نه دوی په تکلیف اخته وي او نه هغه کسان چې دین ته یې رابولي. هغوی ته به په یوه ځل د ټولو احکامو د تعمیل مشکل نه

وي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم اعمال او تگلاره د هر وخت لپاره اسوه یا نمونه ده، په څونه ښه ډول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوتي تگلاره جوړه کړې او بیا یې عملي کړې ده، دا زموږ لپاره په اوس وخت کې هم د دعوت په لار کې گټوره تمامیږي.

**درېیم مطلب:**

**د مکي او مدني دعوت ترمنځ ځیني توپیرونه:**

په مکه کې که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم تر مدینې درې کاله زیات وخت تیر کړی دی، خو دا زیات کلونه ټول د یوې اسلامي ټولنې د بنیاد پر جوړولو تېر شول. که موږ مکي سورتونه تلاوت کړو نو پوهېږو چې زیاتره دعوت توحید، د قران کریم منل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت ته شوی دی، اما د مدینې دعوت له دې بیل وو؛ په مدینه کې نه یوازې چې توحید، رسالت او د قران کریم په اړه ایاتونه راغلي دي بلکې تر څنگ یې عملي احکام، اخلاقیات او حتا اداب هم ښودل شوي دي.

یو بل مهم ټکی د مکي دعوت او مدني ترمنځ دا هم دی چې مکه کې د مسلمانانو حالت د ضعف وو، اما مدینه کې دا ضعف د زور او قووت په کارولو پای ته ورسېد او له دعوت سره جوخت د جنگ او له ځانه د دفاع مرحله هم راغله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشری ۲۷ غزاوې وشوې.

د نړۍ وال کېدو او تر عربو د محدود کېدو امتیاز هم په دې دوو مرحلو کې جوت دی، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه کې نه یوازې ټول عرب اقوام دعوت کړل بلکې د روم، فارس او شاوخوا نور واړه او لوی پاچاهان یې هم دعوت کړل، خو مکي دور کې داسې نه وو؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته یوازې د مکې او ورسره څیرمه شاوخوا سیمو کې مصروف وو او د حج په موسم کې یې یوازې لرې پرتو عرب قبیلو ته بلنه ور کولای شوای چې په همدې ترڅ کې یو مهال د مدینې پر عربو پیښ شو او له همدې برکته مسلمانان مدینې ته ولاړل او هلته یې د یوه نظام بنسټ جوړ کړ.

له دې تګلارې موږ ته پته لګېږي چې په دعوت کې لومړیتوبونه مهم دي او که دا په نظر کې ونه نیول شي ممکن دعوت د بریالي کېدو پر ځای ناکامه شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل یو موټی اصحابو باورونه داسې جوړ کړل چې په مدینه کې د هر ځومره سترو امتحانونو راتګ یې ایمان ونه لړزاوه او تر خپله مرګه یا بریا پر خپل دریځ ټینګ پاتې شول.

په دعوت کې لومړنۍ مرحله مهمه ده، داسې بنسټونه باید ورته جوړ شي چې کله هم ونه لړزېږي، له دې امله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د همدې بنیادونو لپاره دیارلس کاله شپه او ورځ کار وکړ، په قران کریم کې الله تعالی داسې مضبوط بنسټونه ورته ودرول چې په هر ډول

حالاتو کې يې د نړېدو هيڅ امکان نه وو، کله چې پر همـدې بنيـادونو باندې يوه اجتماع رامنځته شـوه نـو نـړۍ يـې بدلـه کـړه او د عربـو پـه خرافاتي او شرکي ټولنه کې يې د توحيد پرستۍ داسې بيلګـې وړانـدې کړې چې نړۍ تر اوسه ورته ګوته په غاښ ده. دا ټـول محصـول د هغـه لومړي دعوت تاثيرات وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم صـلی الله عليه وسلم په مکې دور کې کړی وو.

ځينې سيرت ليکونکي وايي:

استمر الرسول صلى الله عليه وسلم يدعو النـاس في مكـة ثلاثـة عشرـ عامًا، مكتفيًا خلالها بالدعوة إلى العقيدة؛ لأنها أسـاس البنـاء الإسـلامي، والركيزة الكبرى لإقامة المجتمع المسلم.[20]

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم پـه مکـه کـې خلـک ۱۳ کالـه رابلل، دا بلنه يې يوازې عقيدې ته وه؛ ځکه دا د يـوې اسـلامي ټـولنې اساس او د اسلامي جامعې د جوړولو ستره ستن ده.

د ياد کتاب ليکوال يو بل ځای وايي:

لقد مكث رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى الله عليـه وسـلم يـربي المسلمين بالعقيدة حتى صفت نفوسهم، وسكن الإيمـان قلـوبهم، وصـاروا

[20] السيرة النبوية والدعوة في العهد المدني (ص: ۲۰۵)

عبيدًا للمعبود، واستسلموا لربهم الخالق العظيم، وحينئذ أتـتهم الشريـعة جزءًا جزءًا حسب أحـوالهم، وحاجـاتهم فـأسرعوا إلى التطبيـق، والالتـزام العملي الدقيق.[٢١]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو عقيـده جوړولـه ان چې نفسونه يې پاك شول، ايمان يې په زړونو كې ځاى ونيو، د معبـود بندګان شول، خپل ستر خالق ته يې ځانونه تسليم كـړل، دا مهـال نـو د دوى له احوالو او اړتياو سره سم شرعي احكام ليږ -ليـږ ورتـه راتلـل او دوى يې پلي كېدا ته وړاندې كېدل او ربنتي ډول يې عملي كاوه.

[٢١](ياد كتاب: ٢٠٥)

Www.sikaraam.com

## دويم مبحث

## په مدينه کې دعوت

**اول مطلب:**

**د مدني دعوت مرحلې:**

د مبارکپوري له وينا سره سم چې مدني پړاو هم درې مرحلې لـري. لومړۍ مرحله يې د مسلمانانو له ورتګ سره پيلېږي او تر ٦ هجري دوام کوي. دا سخته او اوږده مرحله ده، د مدينې له خارجه او داخله خلک اوچت شول او د دعوت د بندولو او له منځه وړلو هڅې يې وکړې؛ خو بريالي نه شول.

دويمه مرحله يې له مکيانو سره د سولې لـه تړونـه پيـل شـوې بيـا د مکې تر فتحې پورې. په دې دور کې اسلامي دعوت ډېـر عـام شـوی، نژدې پاچاهانو ته بلنليکونه لېږل شوي، عربي قبايلو ته استازي تلـلي او د دعوت کار تر پخوا ډېر په چټکۍ روان وو چې د مکې له فتحې سره

سم يو بل پړاو رامنځته شو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر د ژوند تر اخره یې دوام در لود.

دریم پړاو نو هغه وخت وو چې په نـژدې عربو کې د دعوت پـه وړانـدې خنډونـه لـه منځـه تلـلي وو؛ مکـه فتحـه شـوې وه، طـایف د مسـلمانانو پـه لاس کـې وو، یمـن، بحـرین او حضرـموت بانـدې د مسلمانانو عمال موجود وو او د عربو جزیرې یو نوی نظام تجربه کاوه. په دې مرحله کې د قبایلو پلاوي راتلل او اسلام کې داخلېدل، قران کریم هم دې مرحلې تـه اشاره کړې ده چې (یـدخلون في دیـن الله افواجا).[٢٢]

لاندې به دا درې مرحلې یو څه تفصیلي را واخلو:

**الف: لومړۍ ۶ کلنه مرحله:**

رسول الله په مکه کې د مدینې کسان دعوت کړي وو؛ لومړی یې د خزرج شپږ کسه اسلام ته بللي وو چې هغوی مسلمان شوي وو؛ دا د نبوت ۱۱ کال وو، بیا یې په ۱۲ کال دوولس کسه راغلل چې لس یې خزرجیان او دوه یې اوسیان وو، دوی بیا هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت وکړ او د نبوت په ۱۳ کال بیا ۷۵ کسان راغلل چې د اوس او خزرج دواړو کسان پکې را ټول وو. له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې پټ تماس ونیاوه او د شپې اخره برخه یې د ملاقات لپاره

[٢٢] (الرحیق المختوم، ادوار الدعوة ومراحلها، ٢ الدور المدني)

وټاکله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په همدې برخه کې لـه خپـل تره عباس بن عبد المطلب سره راغی. لـومړی عبـاس خـبرې وکـړې، د مدینې خلکو ته یې د دې دروند مسوولیت په اړه وضاحت ور کـړ، لـه هغوی یې وغوښتل چې که دا کار نه شـئ کـولای رسـول الله صـلی الله علیه وسلم همدلته ایله کړئ چې خپل قوم یې وساتي او دلته یې څوك د خپلې کورنۍ له امله وژلای نه شي.

مدنیانو دا مسوولیت ومانه او له رسول الله صلی الله علیـه وسـلم سره یې بیعت وکړ. رسول الله صلی الله علیـه وسـلم د هغـوی ۷۵ کسـانو ۱۲ کسان مشران وټاکل چې درې یې اوسیان او نور یې خزرجیان وو، دا به د شوي بیعت د تعمیل لپاره کار کوي او یو ډول مسوولیت یـا دنـده بـه یې وي چې دا اجتماعي کار ته ملا وتړي.[۲۳]

د مدینې خلکو ته په دې ډول دعوت ورسېد او خپلو همدې کسانو بیا د مدینې هر کور ته د اسلام بلنه ورسوله او په مدینه کې د رسـول الله صلی الله علیه وسلم تر راتګ وړاندې زیـاتره کورونـو تـه د اسـلام رڼـا رسېدلې وه.

په مدینه کې له مسلمانانو (که انصار وو یـا مهـاجر) ماسـیوا یهـود او مشرك عرب هم اوسېدل. د اوس او خزرج ترمنځ هم سـخت جنګونـه

[۲۳] (الرحیق المختوم: ۱۳۷)

Www.sikaraam.com

تېر شوي وو چې کينې او نفرتونه يې تر اوسه هم پاته وو. په دې وخت کې رسول الله صلی الله عليه وسلم څو داسې کارونه وکړل چې د دعوت په وړاندې شته خنډونه يې راکم کړل. دا کارونه په لاندې ټکو کې تشريح کوو:

**اول: د مسلمانانو ورورګلوي:**

رسول الله په مدينه کې لومړی د مسلمانانو ترمنځ دوه کارونه وکړل چې دواړه د ټولنې د بنسټ ټينګولو لپاره مهم وو؛ يو يې د مسلمانانو ترمنځ ورورګلوي وه چې مهاجر يې له انصارو سره ورونه کړل او بل يې د مسلمانانو ترمنځ يو تړون وکړ. د الرحيق المختوم ليکوال يې ١٦ مادې را خيستې دي چې لومړی مادې يې د مسلمانانو ترمنځ پر اتفاق او اتحاد راڅرخي او په وروسته مادو کې يې د ځينو احکامو يادونه هم شوې ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې ډول وکولای شو چې د مسلمانانو ترمنځ اتفاق وساتي، د پخوانی دښمنی د بيا تازه کېدو مخه ونيسي او دښمن ته موکه ور نه کړي چې د دې نوې ټولنې بنيادونه په سخت وخت کې ولړزوي.

دې کار هغو مسلمانانو ته د بيا پورته کېدو چانس په لاس ور کړ چې مالونه يې مکه کې پاته شوي وو؛ دوی دلته تش لاس وو او د خوراک و څښاک په شيانو پورې حيران وو. رسول الله صلی الله عليه وسلم له انصارو سره د مهاجرو په ورور کولو د هغوی اقتصادي مشکل هم تر

يوه حده ور حل کړ، په دې توګه د انصارو کورنۍ کې مهاجرو ځای وموند او د هغوی په شته اموالو ورسره ګډ شول چې د خرابې اقتصادي وضعې د کنټرول يوه موثره لار وه.

د وروركلوۍ يوه بله ګټه دا وه چې د مسلمانانو ترمنځ يې باور رامنځته کړ، دا مهال چې له مهاجرو او انصارو يوه نوې ټولنه جوړه شوې وه، نوی دين او شريعت ورته راغلي وو، د پخوانيو جنګونو هم زيات وخت نه وو تير شوی او بله دا چې يهود او ځينې مشرك عرب لا هم د مسلمانانو د دې ټولنې په جوړېدو خوښ نه وو او هڅه يې کوله چې دا را ټولېدنه خرابه کړي، په دې وخت کې باور کول سخت کار وي، اما رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو ترمنځ د وروركلوۍ په جوړولو د باور فضا رامنځته کړه چې هم يې د دښمنانو شوم اهداف تحقق ته ايله نه کړل او هم يې د مسلمانانو د محتمل راتلونکي اختلاف مخه ونيوه. د سيرت کتابونو هم په دې اړه ليکلي:

وحقا فقد كانت هذه المؤاخاة حكمة فذة، وسياسة صائبة حكيمة، وحلا رائعا لكثير من المشاكل التي كان يواجهها المسلمون، والتي أشرنا إليها.[٢٤]

---

[٢٤] الرحيق المختوم (ص: ١٦٨)

ژباړه: یقینا دا وروګلوي یو ښه حکمت او له سیاسته ډک ګام وو، د هغو ډېرو مشکلاتو لپاره یو خوندور حل وو چې مسـلمانانو ورسره مـخ وو او موږ ورته اشاره وکړه.

نظم النبي العلاقات بين سكان المدينة، وكتـب في ذلـك كتابـاً أوردتـه المصادر التاريخية واستهدف هذا الكتاب أو الصـحيفة توضـيح التزامـات جميع الأطراف داخل المدينة، وتحديد الحقوق والواجبات، وقد سـميت في المصادر القديمة بالكتاب والصحيفة، وأطلقـت الأبحـاث الحديثـة عليهـا لفظ (الدستور). ولقد تعرض الدكتور أكرم ضياء العمري في كتابـه السـيرة النبوية الصحيحة لدراسة طرق ورود الوثيقة، وقال: «ترقـى بمجموعهـا إلى مرتبة الأحاديث الصحيحة».[٢٥]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مـدینې د اوسـېدونکو تـرمنځ اړیکې منظمې کړې، یو لیک یې ولیکه چې تاریخي سرچینـو راوړی، دې لیک په مدینه کې شـته ټولـو خـواو تـه دنـدې ور معلـومې کـړې، حقوق او مسوولیتونه یې ورته ټاکلي، په پخوانیو تاریخي سرچینو کې د کتاب یا صـحیفې پـه نـوم یـاد شـوی دی چې پـه نویـو څېړنـو کـې د (الدستور) نوم پرې ښودل شوی دی. او دوکتور اکرم ضیاء العمـري پـه

[٢٥] السيرة النبوية عرض وقائع وتحليل أحداث (ص: ٣٢٣)


Www.sikaram.com

خپل یاد کتاب کې د دې تړون پر طریقو څېړنه کړې ده، ده ویلي: ټولې طریقې د کره احادیثو مرتبې ته پورته کېږي.

**دوم: له یهودو سره تړون:**

رسول الله یهود هم د هغه تړون یوه برخه کړل چې د مسلمانانو لپاره یې لیکلی وو. د هغه اراده وه چې مدینه له بهرني یرغل څخه خوندي کړي، د اوسېدونکو ترمنځ یې صمیمي اړیکې وي او مسلمانانو له نورو مذهبوالو سره یو ځای ژوند وکړي. له دې امله یې یهودو ته د مذهب، تجارت، معاملاتو ازادي ور کړه، له هغوی سره یې د دښمن په شان چلند نه کاوه او نه یې له خپلو سیمو د ایستلو کومه تګلاره در لوده.

له دې کارونو هدف امن وو، لکه چې مبارکپوري وایي:

وكان همه في ذلك هو توفير الأمن والسلام والسعادة والخير للبشرية جمعاء، مع تنظيم المنطقة في وفاق واحد، فسن في ذلك قوانين السماح والتجاوز التي لم تعهد في عالم مليء بالتعصب والتغالي.[٢٦]

ژباړه: له دې یې هدف د ټولو انسانانو لپاره امن، سوکالی، نیکمرغی او ښېګڼې وه، د ټولې سیمه یې تر یوې مشرۍ لاندې راوسته، له دې امله یې د ښښنې او درګذر اصول جوړ کړل چې تر دا مهاله له تعصبه او کرکې په ډکه نړۍ کې نه وو جوړ شوي.

---

[٢٦] الرحيق المختوم (ص: ١٧٣)

Www.sikaraam.com

كتب محمد بين المهاجرين والأنصار كتابا واعد فيه اليهود وعاهدهم وأقرهم على دينهم وأموالهم، واشترط عليهم وشرط لهم.[٢٧]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهاجرو او انصارو ترمنځ یو لیک وکیښ چې له یهودو سره یې پکې ژمنه کړې وه، له هغوی سره تړون وو او هغوی یې پر خپل دین او اموالو برقرار پرې ایښي وو، پر یهودو او د یهودو لپاره یې شرطونه بیان کړي وو.

تر دې ځایه مو روښانه کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له یهودو سره د امن او استقرار لپاره تړون وکړ، تر دا مهال یهودو له مسلمانانو سره علني دښمني نه وه کړې؛ دوی له خپل ځان سره هر څه ساتل، دوی اصلا دومره فکر هم نه کاوه چې دا نظام دې دومره ژر پیاوړی شي چې په څو کلونو کې به د دې سیمې حاکمیت په لاس کې واخلي او د دوی هغه کیسې به بیا نه چلیږي چې کلونه کلونه یې دلته د دوستانو په بڼه په عربو کړې وي.

تر دې ځایه رسول الله صلی الله علیه وسلم پوره کوښښ وکړ چې د اسلامي دعوت په وړاندې پراته خنډونه له منځه یوسي او حالات د دې لپاره سازګار کړي چې خپل دعوت تر انسانانو ورسوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کې تجربه کړې وه چې له اسلامي دعوت سره

[٢٧] حیاة محمد صلی الله علیه وآله وسلم (ص: ١٤٩)

جاهل عرب، مغرض يهود او د واك و ثروت شوقيان خورا بده دښمني لري، له دې امله يې په مدينه کې لومړی لا کوښښ کاوه چې محکم بنسټ جوړ کړي او تر وسه پراته خنډونه له منځه يوسي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د همدې مدبرانه پريکړو او فعاليتونو پايله وه چې ايينده مسلمانانو د دعوتي جنګ په ميدانونو کې برياوې تر لاسه کړې. رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدينه کې نه يوازې دا کارونه وکړل بلکې د عبادت او دعوت په خاطر يې د مسجد قباء او نبوي جومات بنيادونه هم ورغول چې د مسلمانانو د ټولنې په جوړولو کې د جومات نقش تر اوسه هم پاته دی.

تر دې وروسته مسلمانانو ته په قران کې د جنګ اجازه وشوه او هغوی نه يوازې دعوت کاوه بلکې پوځي فعاليتونه يې هم پيل کړل چې له ځانو او مدينې دفاع وکړي. حالات داسې شو چې پر دعوت باندې يو ډول جنګي اغېز پرېوت، ان دوه ځله د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه داعيان د دښمن د جنګي چلونو ښکار شو چې يوازې به د دعوت لپاره بلل شوي وو او هيڅ ډول جنګي رول به يې نه در لود.[٢٨]

رسول الله د دعوت په وړاندې دوه ډوله کسان در لودل، يو مسلمانان وو او بل يې نامسلمان؛ له نامسلمانانو سره اوس تماسونه سخت وو

[٢٨] (الرحيق المختوم: ٢٦٥ تر ٢٦٧)

Www.sikaraam.com

ځکه په وړاندې یې سنګر نیولی وو او ځینې بې طرفه نامسلمانو تـه ور خلاص نه وو چې خپله بلنه ور ورسوي، له دې امله یې نـو پـر جنـګ تمرکز وکړ او له حالاتو سره سم چې کوم احکام نازلېدل هغه به یې پـه عملي بڼه مسلمانانو ته ښودل، له دې امله نو قران کریـم داسې لارښوونه کړې وه:

{وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ}.

[التوبة: ۱۲۲]

ژباړه: او مومنانو ته نه ښايي چې ټول ولاړ شي، کاش له هرې ټولۍ یې ځینې ولاړ چې دیني پوهه تر لاسه کړي او کله چې خپـل قـوم تـه راشي نو خبر ور کړي ښايي هغوی ځانونه خوندي کړي.

په دې پړاو کې تر دعوتي کار جنګي فعالیتونه زیات شول چې زموږ له موضوع سره اړخ نه لګوي او زه یې تر بحث تېرېږم.

**ب: دویمه مرحله:**

د حدیبیې تر سولې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسـلم د مثلـث دښمن یو وزر ګواکې مات کړ. په عربي جزیره کـې یهـود او د غطفـان ستره جنګي قبیله ور پاته وه چې څو پلا یې ټکرونـه ور سره کـړي وو. مکیانو لکه په مکه کې چې د دعوت په مخکې خنډونه جوړول، مدینه

کې یې هم مسلمانان ارام ته نه ایله کول، پوره پنځه کاله یې مسلمانان بوخت ساتلي وو، کله چې د مکیانو زور وختی او له مسلمانانو سره د لس کاله سولې پر تړون راضي شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت او جنګ دواړو کې نورو طرفونو ته پام وګرزاوه. په جنګي لحاظ یې د یهودو کار ور خلاص کړ او په دعوت کې یې یو ستر انقلاب راوست چې له عربو تر عجمو یې عام کړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکي او د مدني ژوند په سر کې د قبایلو مشران را بلل خو دا ځل یې د امپراتوریو پاچانو ته لیکونه ولیږل او د دعوت لمن یې د امپراتوریو تر پولو ور ورسوله. په دې لړ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم پاچاهانو ته لیکونه لیږلي دي چې څو نمونې یې په لاندې ډول دي:

۱/ امام مسلم په کتاب السیر والجهاد کې د پاچاهانو د دعوت په لړ کې یو حدیث راوړی:

عَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى كِسْرَى، وَإِلَى قَيْصَرَ، وَإِلَى النَّجَاشِيِّ، وَإِلَى كُلِّ جَبَّارٍ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللهِ تَعَالَى»، وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[۲۹]

[۲۹] صحیح مسلم، کتاب الجهاد والسیر: (۳/ ۱۳۹۷).


Www.sikaraam.com

ژباړه: انس بن مالک رض روایت کړی چې رسل الله کسرا، قیصر، نجاشي او بل هر متکبر د الله لور ته دعوت کړل. اما نجاشي هغه کس نه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د جنازې لمونځ کړی وو.

نجاشي ته د لیک په اړه اختلاف موجود دی؛ ځینو سیرت لیکونکو هغه لیک را خیستی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې ژوند مهال له مهاجرینو سره ور لیږلی وو، په هغه لیک کې د جعفر یادونه شوې ده. دا لیک د مکي ژوند مهال لیږلی شوی دی او له متن څخه یې دا خبره په ښکاره جوتیږي.

د مسلم حدیث که په همدې بڼه سهي وبولو نو بیا لومړی دعوتونه د روم او فارس پاچاهانو ته شوي دي او بیا چې کله مسلمان نجاشي مړ شوی دی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه ځای ناستي ته هم لیک استولی دی او دا ښایي ډیر وروسته وي. یا دا هم امکان لري چې د مسلم دغه حدیث کې تېروتنه شوې وي، د مسلم دونه نور سندونه وروسته راغلي دي چې انس د بل نجاشي یادونه نه ده کړې، له دې بیا معلومیږي چې کوم نجاشي ته چې مسلمانانو پنا ور وړې وه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلام ته دعوت کړ او تر دې وروسته یې هغه بل ځای ناستي ته هم بلنه ور کړې ده چې دا کار د مبارکپوري له وینا سره سم په نهمه(۹) هجري کې شوی دی. هغه دواړه لیکونه یو په بل پسې راوړم:

لومړي نجاشي ته د ليک متن په دې ډول دی:

بيهقي (مړينه: ۴۵۸) له ابن اسحاقه (مړينه: ۱۵۱) د هغه ليک متن نقل کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ﷺ نجاشي تـه لېږلـی و، هغه متن دادی:

بسم الله الرحمن الرحيم هـذا كتـاب مـن محمـد النبـي إلى النجـاشي الأصحم عظيم الحبشة، سلام على من اتبع الهـدى، وآمـن بـالله ورسـوله، وأشهد ألاإله إلا الله وحده لا شريك له، لم يتخـذ صـاحبة ولا ولـدا، وأن محمدا عبده ورسوله، وأدعوك بدعاية الإسلام، فإني أنا رسوله فأسلم تسلم، يا أَهْلَ الْكِتابِ تَعالَوْا إِلى كَلِمَةٍ سَواءٍ بَيْنَنا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً، وَلا يَتَّخِذَ بَعْضُنا بَعْضاً أَرْباباً مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْـهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ، فإن أبيت فإن عليك إثم النصارى من قومك.[۳۰]

د بخښونکي او مهربان الله په نوم، دغه ليک د محمـد نبـي ﷺ لـه لوري د حبشې پاچا نجاشي اصحمه ته، پر هغه چا دې سلام وي چې د هدايت پيروي يې وکړه او پر الله و رسول يې ايمان راوړی، زه شاهدي ورکوم چې الله پرته بل معبود نه شته، دی يوازينی دی هيڅ شريک نه لري، نه ميرمن لري او نه هم اولاد، محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی، زه تاته د اسلام بلنه درکوم، زه د الله رسول يم نو د اسلام په منلـو ځـان

[۳۰] دلائل النبوة: ۳۰۸/۲.

Www.sikaraam.com

خوندي کړه، اې اهل کتابو! هغه خبر ومنئ چې زموږ او ستاسو شريکه ده، له الله پرته به د بل چا عبادت نه کوو او نه به هيڅ شی ورسره شريك نيسو، نه به له الله پرته زموږ ځينې نور په خدايي نيسي-، که دا خبره يې ونه منله ورته وايئ چې موږ تاسو زموږ پر مسلماني شاهدان شئ. که تا انکار وکړ نو د خپل قوم نصاراو گنا ستا پر غاړه ده.

دويم نجاشي ته ليک:

بسم الله الرحمن الرحيم من محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى النجاشي عظيم الحبشة، سلام على من اتبع الهدى، أما بعد فإني أحمد إليك الله الذي لا إله إلا هو الملك القدوس السلام المؤمن المهيمن، وأشهد أن عيسى- ابن مريم روح الله وكلمته. ألقاها إلى مريم البتول الطيبة الحصينة فحملت بعيسى من روحه ونفخه، كما خلق آدم بيده، وإني أدعو إلى الله وحده لا شريك له، والموالاة على طاعته، وأن تتبعني، وتؤمن بالذي جاءني فإني رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى الله عليه وسلم وإني أدعوك وجنودك إلى الله عز وجل، وقد بلغت ونصحت، فاقبل نصيحتي، والسلام على من اتبع الهدى.[٣١]

ژباړه: د بخښونکي او مهربان الله په نوم؛ د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له لوري د حبشې پاچا نجاشي ته! پر هغه چې سلام چې د

---

[٣١] الرحيق المختوم (ص: ٣٢١)

Www.sikaraam.com

هدایت پیروي یې وکړه، امابعد! زه تاته د هغه الله ستاینه کوم چې له ده پرته بل معبود نه شته، یوازې همدی پاچا دی، سپېڅلی، سلام، مومن او مهیمن دی، زه شاهدي ورکوم چې عیسی د مریم زوی د الله روح او کلمه ده چې پیغلې، پاکې او خوندي شوې مریمې ته یې ورکړې وه، نوله دې روح او پوکلو په هغې کې عیسی پیدا شو، لکه چې ادم یې په خپل لاس پیدا کړی وو، زه د یوازیني الله لور ته بلنه کوم چې هیڅ شریک نه لري، دوستي د هغه پر اطاعت ده، ته زما پیروي وکړه، پر هغه څه ایمان راوړه چې ماته راغلي ځکه زه د الله رسول یم، زه تا او ستا لښکر د الله لور ته رابولم، ما پیغام ورساوه او نصیحت مې وکړ، زما نصیحت ومنه او پر هغه چا سلام چې د هدایت تابعداري یې وکړه.

د حدیبیې تر سولې وروسته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لیکونه استول نو دا پاس لیک یې د حبشې پاچا ته لیږلی دی او تر دې وروسته د مسلم له حدیث سره سم یو بل لیک هم په نهمه هجري کې لیږل شوی دی چې د دې مسلمان پاچا ځای ناستی یې هدف وو. مسلمان پاچا د خیبر تر غزا وروسته لا ژوندی دی ځکه د هغه د مرگ په اړه ابوهریره داسې یو روایت نقل کړی دی چې خپله ددې کیسې شاهد ځان ښیي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: «نَعَى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّجَاشِيَّ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ، فَخَرَجَ إِلَى الْمُصَلَّى، فَصَفَّ أَصْحَابُهُ خَلْفَهُ، وَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعًا».[٣٢]

ژباړه: ابوهريره ويل: نجاشي چې په کومه ورځ مړ شوی وو رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته په هغه ورځ خبر راکړ، عيدگا ته ولاړ، اصحاب يې شاته صف ودرول، نو په څلور تکبيره يې لمونځ پر وکړ.

دلته موږ وينو چې ابوهريره د دې پيښې مهال موجود دی، ابوهريره هغه څوك دی چې د خيبر د غزا مهال رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلی دی او تر دې وړاندې موجود نه وو، دا چې د نجاشي د جنازې مهال د خپل حضور خبره کوي نو له دې معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه ليك لومړي نجاشي ته ور لېږلی دی.

د ابوهريره رض په اړه د تاريخ اسلام ليکوال امام ذهبي(مړينه: ٧٤٨) وايي:

قَالَ قيس بن أَبِي حازم عَنْهُ: جئت يَوْم خيبر بَعْدَما فرغوا من القتال.[٣٣]

ژباړه: قيس بن ابي حازم له ده قول نقل کاوه چې زه د خيبر په ورځ تر هغه وروسته راغلم چې دوی له جنگه خلاص شوي وو.

[٣٢] (مسند احمد، مسند ابي هريره: ٩٦٤٦)
[٣٣] (تاريخ الاسلام الطبقة السادسة الكنى ١٢۴-ع: ابوهريره: ٢/ ٥٦٢)

Www.sikaraam.com

زما په اند رسول الله صلى الله عليه وسلم د حبشې پاچا ته درې ځله ليکونه لېږلي دي چې دوه يې د دعوت دي او يو يې د مهاجرينو د توصيې په اړه وو. تر حديبيې وروسته ليک لومړي نجاشي ته د اسلام د بلنې دی او هغه د مسلم روايت چې د کوم ليک يادونه کوي هغه د نهمې هجري ليک دی چې په تصادفي ډول د کسرا او قيصر له يادونې سره يو ځای راغلی دی او حتمي نه ده چې دا ټول ليکونه دې په يوه کال يا هم يوه وخت کې استول شوي وي.

۲/ د مصر پاچا ته داسې ليک لېږل شوی:

«بسم الله الرحمن الرحيم» من محمد عبد الله ورسوله إلى المقوقس عظيم القبط، سلام على من اتبع الهدى، أما بعد، فإني أدعوك بدعاية الإسلام، أسلم تسلم، وأسلم يؤتك الله أجرك مرتين، فإن توليت فإن عليك إثم أهل القبط. يا أَهْلَ الْكِتابِ تَعالَوْا إِلى كَلِمَةٍ سَواءٍ بَيْنَنا وَبَيْنَكُمْ، أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ، وَلا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً، وَلا يَتَّخِذَ بَعْضُنا بَعْضاً أَرْباباً مِنْ دُونِ اللَّهِ، فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ.[٣٤]

ژباړه: بسم الله الرحمن الرحيم، د محمد چې د الله بنده او رسول دی د قبط پاچا مقوقس ته! پر هغه چا سلام چې هدايت يې ومانه؛ امابعد! زه تاته د اسلام بلنه درکوم، اسلام ومنه سالم به شې، اسلام ومنه الله به

[٣٤] الرحيق المختوم (ص: ٣٢٢)


Www.sikaraam.com

تاته دوه اجره در کړي، که دې مخ وګرزاوه نو د قبطيانو ګنا به پر تا وي.
اې اهل کتابو! هغې خبرې ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ برابره ده چې يوازې د الله عبادت به کوو او هيڅ شی به نه ورسره شريکوو، له الله ماسيوا به زموږ ځينې نور په خدايي نـه نيسي.، کـه دوی مـخ واړاوه نـو تاسو ووايئ چې شاهدان شئ چې موږ مسلمانان يو.

دا ليک حاطب بن ابي بلتعه وړی و، د ليک تر ور کړې وروسته يې نور دعوت هم ور کړ او خپل مسووليت په ښه ډول اداد کړ. هغـه پاچـا اسلام ونه مانه خو رسول الله صلی الله عليه وسلم تـه يـې دوې مينځـې، يوه کچره او ځينې ډالۍ راوليږلې او يو ليک يې هم ورته راوليږه.

په دې پاس ليک کې رسول الله صلی الله عليـه وسـلم د اهـل کتـابو مشترک ټکي ته هم اشاره کړې ده، دا په دعوت کې ډېر مهم رول لري. له انسانانو سره مشترکات پيدا کول دا فايده لري چې هغوی تمايل ښيي، په دعوت کې قاطعيت هم مهم دی، رسول الله صلی الله عليه وسـلم پـه دې ليک کې په ډېرو پريکنده الفاظو خپل مطلـب رسـولی دی چـې د داعي لپاره دا يو اړين ټکی دی.

۳/ د فارس پاچا ته يې د عبد الله بن حذافة السهمي پـه لاس داسـې ليک ولېږه:

«بسم الله الرحمن الرحيم» من محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى كسرى عظيم فارس، سلام على من اتبع الهدى، وآمن بالله ورسوله، وشهد ألاإله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمدا عبده ورسوله، وأدعوك بدعاية الله، فإني أنا رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى الناس كافة، لينذر من كان حيا ويحق القول على الكافرين، فأسلم تسلم، فإن أبيت فإن إثم المجوس عليك.[٣٥]

ژباړه: بسم الله الرحمن الرحيم، د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له لوري د فارس پاچا کسرا ته، پر هغه چا سلام چې د هدايت پيروي وکړي، پر الله او د هغه پر رسول ايمان راوړه، دا شاهدي ور کړه چې له الله ماسيوا بل معبود نه شته، يوازي دی شريک نه لري، محمد د هغه بنده او رسول دی، زه دې د الله لور ته رابولم؛ ځکه زه ټولو انسانانو ته د الله رسول يم؛ څو هغه څوک خبر شي چې ژوندي وي او پر منکرينو د الله قول ثابت شي، اسلام ومنه سالم به شې، که دې انکار وکړ، نو د مجوسو گنا به پر تا وي.

د فارس مغرور پاچا خط ټوټه ټوټه کړ او د يمن حاکم بازان ته يې امر وکړ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته لاس تړلی ولېږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې خبر په اورېدو هغه ته ښرا وکړه

---

[٣٥] الرحيق المختوم (ص: ٣٢٤)

Www.sikaraam.com

چې د هغه پاچاهي دې همداسې ټوټه ټوټه شي. تر رسول الله صلی الله علیه وسلم صلی الله علیه وسلم وروسته د اول او دویم خلیفه په وخت کې د فارس پاچاهي همداسې ونړېده او د ابد لپاره یوازې د تاریخ برخه شوه او بس. ابن کثیر (مړینه: ۷۷۴) په خپل کتاب (السیرة النبویة) کې د شجاع بن وهب نوم یاد کړی دی چې کسرا ته لېږل شوی وو، خو وروسته یې د ابو سلمه او یزید بن حبیب په روایاتو کې بیرته د عبد الله بن حذافه نوم یاد کړی دی.[٣٦]

۴/ د روم واکمن ته هم په دې ډول لیک لېږل شوی دی:

وروى البخاري ضمن حديث طويل نص الكتاب الذي كتبه النبي صلى الله عليه وسلم إلى ملك الروم هرقل، وهو هذا:

«بسم الله الرحمن الرحيم» من محمد عبد الله ورسوله إلى هرقل عظيم الروم، سلام على من اتبع الهدى، أسلم تسلم، أسلم يؤتك الله أجرك مرتين، فإن توليت فإن عليك إثم الأريسيين، يا أَهْلَ الْكِتابِ تَعالَوْا إِلى كَلِمَةٍ سَواءٍ بَيْنَنا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً، وَلا يَتَّخِذَ بَعْضُنا بَعْضاً أَرْباباً مِنْ دُونِ اللَّهِ، فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ.[٣٧]

---

[٣٦] (السيرة النبوية، ذكر بعثه الى كسرى ملك الفرس:٣/ ٥١١)

[٣٧] (الرحيق المختوم، ادوار الدعوه و مراحلها، المرحلة الثانيه طور جديد، المكاتبة الملوك والامراء، الكتاب الى قيصر ملك الروم: ١/ ٣٢٥)

Www.sikaraam.com

ژباړه: امام بخاري د يوه اوږده حديث په څنګ کې د هغه ليک متن هم راوړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د روم پاچا هرقل ته ليکلی وو، په هغه ليک کې دي: بسم الله الرحمن الرحيم، د محمد چې د الله بنده او رسول دی له لوري د روم پاچا هرقل ته، پر هغه چا سلام چې د هدايت پيروي يې وکړه. اسلام راوړه نو سالم به پاته شې؛ اسلام ومنه تاته به الله دوه اجره در کړي او که دې مخ واړاوه نو د ملت ګنا به پر تا وي. اې اهل کتابو! هغې کلمې ته راشئ چې زموږ او تاسو ترمنځ برابره ده، هغه دا چې يوازې د الله عبادت به کوو او هيڅ شی به نه ورسره شريکوو، او نه به له الله ماسيوا زموږ ځينې نور په خدايي نيسي، که دوی مخ واړاوئ نو تاسو ووايئ چې تاسو شاهدان شئ چې موږ مسلمانان يو.

دا ليک يې دحيه بن خليفه الکلبي ته ور کړ او هغه يې امر کړ چې ليک د بصرا واکمن ته ور کړي چې هغه يې قيصر ته وسپاري. د ليک په متن کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مشترک ټکي له يادولو سره هغوی ته د دوه چنده اجره وعده هم ور کړې ده چې په دې ډول يې هغه د اسلام لور ته زيات تشويق کړی دی. د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ليکونه د هغو کسانو لپاره ښه لارښود دي چې دعوت کوي او له دې اسلوبو څخه بايد په خپل دعوتي کار کې پوره ګټه واخلي.

Www.sikaraam.com

رسول الله له دې مرحلې ډېره ګټه واخیسته، نه یوازې د دښمنانو خلاف یې جنګي محاذ پراخ کړ او خپل وسله وال دښمنان یې کمزوري کړل، بلکې دعوت یې هم پراخ کړ، د عربو له جزیره یې د روم او فارس تر امپراتوریو ورساوه، په دې لړ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د علی بن حضرمي په لاس د بحرین حاکم منذر بن ساوي ته لیک ولېږه، د سلیط بن عمرو العامري په لاس یې د یمامه حاکم هوذه بن علي ته لیک ولېږه، د شجاع بن وهب په لاس یې د دمشق حاکم حارث بن ابي شمر الغساني ته پیغام ولېږه او د عمرو بن العاص په لاس یې د عمان حاکم جیفر او ورور یې عیاد یا عباد یا هم عبد د جلندي زامنو ته لیک ولېږه او هغوی یې هم د اسلام لور ته دعوت کړي وو. د یمن حاکم حارث بن عبد کُلال الحمیري ته یې د مهاجر بن ابي امیة المخزومي په لاس دعوت لیک ولېږه.

د نومو په اړه لږ اختلاف تر سترګو کېږي، ابن هشام(مړینه: ۲۱۳) په خپل تاریخ سیرة ابن هشام کې د اسماء الرسل ومن ارسلوا الیهم تر عنوان لاندې د پاچاهانو او استازو نومونه یاد کړي دي چې لږ اختلاف یې له دلته یاد شویو کسانو سره شته.[۳۸]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له پاچاهانو ماورا قومونو ته هم لیکونه ولېږل، د ابن طولون په کتاب اعلام السائلین عن کتب سید المرسلین

---

[۳۸] (المقتفي من سیرة المصطفی، رسل النبي ص: ۱/ ۱۱۲)

کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تـه د حـدیبیې تـر سـولې وروسته او خیبر مخکې رفاعه بن زید الجذامي راغی اسلام یـې ومانـه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه پـه لاس یـو لیـک د هغـه قـوم تـه ولیکه چې پکې راغلي وو:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحَمْنِ الرَّحِيمِ، هَذَا كِتَابٌ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُـولِ اللَّهِ لِرِفَاعَـةَ بْـنِ زَيْدٍ: إِنِّي بَعَثْتُهُ لِقَوْمِهِ عَامَّةً، وَمَنْ دَخَلَ فِيهِمْ، يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُـولِهِ، فَمَنْ أَقْبَلَ مِنْهُمْ فَفِي حِزْبِ اللَّهِ وَحِزْبِ رَسُولِهِ، وَمَنْ أَدْبَرَ فَلَهُ أَمَانُ شَهْرَيْن.[۳۹]

ژباړه: د بخښونکي او مهربان الله په نوم، دا لیک د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري رفاعه د زید زوی ته؛ زه دی د ده عمومي قوم او هغه څوک چې پکې داخل شوي دي؛ ور لیږم، دی به هغوی د الله او رسول لور ته بولي، که چا ومنه نو د الله او رسول په لښکر بـه یـې شامل شي او که چا مخ وگرزاوه نو دوې میاشتې امان لري.

له دې پرته یې نور لیکونه هم استولي دي چـې دلتـه د ټولـو یادونـه امکان نه لري او د کتاب حجم به غـټ کـړي. کـه څـوک د رسـول الله صلی الله علیه وسلم د لیکنو په اړه معلومات غواړي نو یاد کتاب یې ۲۶ نمونې را غونډې کړې دي چې عامو افرادو تـه هـم پکـې شـته، د قـوم مشرانو، سردارانو، د یوې سیمې حاکمانو او سترو پاچاهانو ټولو ته یـې

[۳۹] إعلام السائلين عن كتب سيد المرسلين لابن طولون (ص: ۱۲۲)

Www.sikaraam.com

مثالونه پکې راوړي دي او په په دې برخه کې بـه د يـوه غـوره لارښـود حيثيت حتما لري.

**ج: درېيمه مرحله:**

په دعوتي مرحلو کې نو دا تر ټولو غوره مرحله ده چې هـم خنډونـه کم وو او هم زياتو سيمو ته اسلامي دعوت ورسېد. د مکـې تـر فتحـې وروسته په ټوله عربي سيمه کې بل داسې نظام وجود نه در لـود چـې د عربو سترگې دې د هغه لور ته اوښتې وای؛ له دې امله نو د عربو پلاوي د مدينې رياست ته راتلل او په نوي دين کې يو په بل پسې داخلېدل. د مکيانو ماتې د عربو ليدلوري د مسلمانانو په اړه بدل کړ، نور قبايل هـم پوه شوي وو چې د مدينې نظام ورځ تر بلې د پياوړتيا په حال کې دی، له دې امله نو قبايلو کوښښ کاوه چې خپـل پـلاوي د نظـام مرکـز تـه واستوي څو د هغه ملاتړ لاسته راوړي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند په دې دوو کلونو کې دومره قومونو اسـلام ومانـه چـې پـه تېـرو ۲۱ کلونـو کـې دومـره اقـوام نـه وو مسلمانان شوي. له دې امله نو د تبوک په غزا کې (۳۰۰۰۰) ديرش زره مجاهـدين وو خـو د مکـې د فتحـې پـه غـزا کـې (۱۰۰۰۰) لـس زره مجاهدين موجود وو. په حجة الوداع کې تر يو ليک زيـات انسـانان را ټول وو او دومره لوی شمېر کسان په تېرو شلو کلونو کې د هيڅ جمعي کار لپاره نه وو را ټول شوي.

د مبارکپوري له وینا سره سم چې تـر اویـا زیـات پـلاوي رسـول الله صلی الله علیه وسلم ته راغـلي دي. رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم د انسانیت د نجات لپاره یو داعي وو، د هغه اول او اخر هدف د انسانیت ژغورنه وه؛ اما په دې لار کې د جاهلې ټولنې خلك ورته خنډ شو چې تر شل کاله د زیاتې مبارزې په ترڅ کې رسول الله صلی الله علیه وسـلم په دې وتوانېده چې سرسخت مخالفین مات کړي او عـامو انسـانانو تـه قناعـت ور کـړي چـې دوی د ژونـد کومـه لار اخیسـتې دا خطـا ده او هلاکت ته مو بیایي او د نجات یوه بله لار شته چې دی یـې د ښـودنې لپاره راغلی دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بریا خبرې خوله پر خوله کېدلې، د قران کریم د نزول تسلسل هم ګړوندی وو، د احکـامو عمـلي زدکـړه روانه وه، په همدې وخت کې به رسول الله صلی الله علیـه وسـلم خپـل استازي هم سیمو ته لېږل چې خلکو د اسلام عملي تمرین ور کړي، په لسمه هجري کې یې د نجران سیمې ته د خالد په مشري اصحاب ولېږل چې د اسلام دعوت نشر کړي او خلکو ته د اسلام حقانیت بیان کـړي، خالد به ویل:

أَيُّهَا النَّاسُ أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا.[٤٠]

---

[٤٠] السیرة النبویة لابن کثیر (٤/ ١٨٨)

Www.sikaraam.com

ژباړه: اې انسانانو! مسلمان شئ چې سالم پاته شئ.

خالد بن وليد همالته ميشت وو او په يوه ليک کې يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته داسې ليکلي دي:

آمُرُهُمْ بِمَا أَمَرَهُمُ اللَّهُ بِهِ وَأَنْهَاهُمْ عَمَّا نَهَاهُمُ اللَّهُ عَنْهُ، وَأُعَلِّمُهُمْ مَعَالِمَ الْإِسْلَامِ وَسُنَّةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[٤١]

ژباړه: زه دوی په هغه څه امر کوم چې الله په امر کړي او له هغه يې منعه کوم چې الله منعه کړي دي، دوی ته د اسلام عملي طريقې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت ورښيم.

د اسلامي دعوت د خپرېدا کار په چټکۍ روان وو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم اساسي کار هم دا دعوت وو، دا چې اوس يې ښه موکه ورته برابره شوې وه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د يوې شيبې وخت له ضايع کېدو پرته هر لور ته خپل استازي لېږل او دعوت په تېزي خپرېده، د يمن لور ته يې هم خپل استازي ولېږل، ابن کثير ليکي:

[٤١] السيرة النبوية لابن كثير (٤/ ١٨٩)


Www.sikaraam.com

بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الامراء إِلَى أهل الْيمن قبل حجَّة الْوَدَاع يَدعُونَهُمْ إِلَى الله عزوجل قَالَ الْبُخَارِيُّ: بَابُ بَعْثِ أَبِي مُوسَى وَمُعَاذٍ إِلَى الْيمن قبل بدء حجَّة الْوَدَاع.[٤٢]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم تر حجة الوداع مخکې د يمن لور ته خپل اميران ولېږل، خلك يې د الله لور ته رابلل، بخاري ويلي دي: تر حجة الوداع مخكې د يمن لور ته د ابو موسى او معاذ لېږل.

رسول الله به هر داعي د تلو مهال ځينې لارښوونې هم کولې چې د دعوت مهال بايد دا ټکي په پام کې ونيسي-، دوى دوو ته يې داسې لارښونه کړې ده:

ثُمَّ قَالَ: " يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا " وَفِي رِوَايَةٍ: وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا.[٤٣]

ژباړه: بيا يې وويل: اساني کوئ، سختي مه کوئ، زيرى ور کوئ کرکه مه خپروئ، په يوه روايت کې دي: تر خپل منځ يو د بل خبره منئ اختلاف مه سره کوئ.

---

[٤٢] السيرة النبوية لابن كثير (٤/ ١٩١)

[٤٣] السيرة النبوية لابن كثير (٤/ ١٩١)

Www.sikaraam.com

رسول الله هم خپل استازي لېږل او عربي قبایل په خپله هم راتلو چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت وکړي او د مدینې د قوي ریاست ملاتړ تر لاسه کړي. په دې ډول اسلامي دعوت په عربي جزیره کې داسې تیز خپور شو لکه د نن په یوه متمدنه نړۍ کې د کرونا وبا چې خپره شوه. یو لور ته رسول الله صلی الله علیه وسلم دا کار ګړندی کړی وو او بل لور ته هر مسلمان په خپله سیمه کې د دعوت دنده مخته وړه، یو مهم کار دا هم وو چې اوس قبایل په خپله هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته راتلل او د اسلام په دایره کې داخلېدل چې دا کار څو کاله مخکې هیڅ امکان نه در لود. په دې ډول درېیمه مرحله تر نورو مرحلو د اسلام د خپراوي لپاره غوره مرحله وه چې اساس یې د مکي او مدني دور په نورو مرحلو کې ښودل شوی و.

**دویم مطلب:**

**د دعوت میکانیزم:**

په مکي او مدني دور دواړو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت مهال مختلف میکانیزمونه غوره کړي دي چې په دې برخه کې په لنډ ډول بحث پرې کوم:

**۱ـ فردي کتنې:**

د فردي کتنو یې خورا زیات مثالونه دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم په لومړي پیل کې د خپل نبوت اظهار خدیجة الکبری، نژدې

ملګري ابوبکر صديق، د تره زوی علي المرتضی تـه وکـړ چـې هغـوی ټولو ايمان پرې راوړ، همدا شان زيد د خديجې مرييـی هـم د لومړنيـو مسلمانانو له جملې دی. اما دلته به يې پر غير مکيـانو د فـردي دعـوت مثال بيان کړم:

سويد بن صامت د يثرب له مشهورو شاعرانو بلل کېده، هغه مکې ته د حج يا عمرې لپاره راغلی وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم اسلام ته دعوت کړ، د قران کريم تلاوت يې ورته وکړ او هغه هم اسلام ومانه. دا د نبوت ١١ کال پيل وو چې همدغه شاعر يثرت ته تر تلو وروسـته د بعاث په جنګ کې ووژل شو.[٤٤]

اياس بن معاذ يو بل ځوان دی چې له يثربه مکې ته راغلی وو. دی د خپل قوم په يوه پلاوي کې قريشو ته راغلي وو د دوستي تړون ورسره وکړي او د خزرج په مقابل کې ځانونه غښتلي کړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم چې يې په راتګ خبر شو نو دعوت يې ور کړ او په پـلاوي کې يوازې اياس ايمان راوړی او د قوم له لوري لومړی ښه پـوره ورتـل شو. دا د نبوت د ١١ کال پيل وو؛ يثرب ته تر تلو وروسته په داسې حال کې مړ شو چې تکبير، تحميد او تهليل يې وايه او له دې ښکاري چـې مرګ يې پر اسلام شوی دی.[٤٥]

---

[٤٤] (الرحيق المختوم: ١١٨)
[٤٥] (الرحيق المختوم: ١١٩)

Www.sikaraam.com

د سويد او اياس له خولې دا خبر په يثرب کې خپور شوی وو، ابوذر غفاري بيا د يثرب په اطرافو کې اوسېده. هغه د دې خبر په اورېدو لومړی خپل ورور مکې ته ولېږه چې سم خبر ور ته راوړي. اما ورور داسې خبر ورته راوړی:

وَاللَّهِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَأْمُرُ بِالخَيْرِ وَيَنْهَى عَنِ الشَّرِّ، فَقُلْتُ لَهُ: لَمْ تَشْفِنِي مِنَ الخَبَرِ.[٤٦]

ژباړه: په الله قسم! يو کس مې وليد چې په ښو يې امر کاوه او له شره يې منعه کوله. ما ورته وويل: سم دې ډاډه نه کړم.

تر دې وروسته خپله مکې ته ولاړ، هلته يې علي رض وليد او هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته بوتلی، رسول الله صلى الله عليه وسلم اسلام ورته وړاندې کړ او ده هم ومانه. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته داسې توصيه وکړه:

«يَا أَبَا ذَرٍّ، اكْتُمْ هَذَا الأَمْرَ، وَارْجِعْ إِلَى بَلَدِكَ، فَإِذَا بَلَغَكَ ظُهُورُنَا فَأَقْبِلْ»

ژباړه: اې ابوذره! دا کار پټ کړه، خپل ښار ته دې ولاړ شه، کله چې زموږ د راښکاره‌کېدو خبر در ورسېد، بيا راشه.

---

[٤٦] صحيح البخاري (٤/ ١٨٤).

خو ده دا خبره ونه منله او په حرم کې يې د اسلام اعلان وکړ، مکيانو سخت وواهه چې بې هوښه شو، عباس راغی او له خلکو يې په دې بانه خلاص کړ چې د غفار قبيلې دی او هغه سيمه چې دا قبيله پکې اوسي زموږ د تجارت او کاروانو لار ده، خو ده په دابله ورځ بيا حرم کې د اسلام اعلان وکړ او خلکو تر بې هوښې وډباوه، وروسته يثرب ته ولاړ.[٤٧]

طفيل بن عمرو الدوسي له يمن څخه مکې ته راغی، دا د خپلې قبيلې مشر وو، مکيانو له رسول الله صلى الله عليه وسلم ډار کړی وو چې ورسره ونه ويني، خو هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم په حرم کې وليد چې لمونځ يې کاوه او قران کريم يې هم واورېد، بيا يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم غوښتنه وکړه چې قران ورته ووايي، کله چې يې واورېد اسلام يې ومانه او خپل قوم ته ستون شو چې د يمامه په جګړه کې شهيد شو.[٤٨]

ضماد الازدي هم د يمن د ازد قبيلې دی، مکې ته راغی خلکو ورته وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ليونی دی، ده له ځان سره ويل چې زه د کوډو خلاصولو په چل پوهېږم، که دا ليونی ووينم ښايي خدای يې جوړ کړي. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغی او د دم

[٤٧] (صحيح البخاري، کتاب المناقب باب قصة زمزم: (٤/ ١٨٤).

[٤٨] (ابن هشام قصة اسلام الطفيل بن عمرو الدوسي: ١/ ٣٨٢).

يې ورته وويل؛ خو رسول الله صلى الله عليه وسلم د ان الحمد لله... تر پايه ورته وويله. هغه وويل: بيا يې راته ووايه. رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ځله ورته تكرار كړه او ده ته يې خوند ور كړ نو مسلمان شو.[٤٩]

**۲ـ ميلمستياوې:**

په سيرت ابن اسحاق كې راغلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د وانذر عشيرتك الاقربين تر نزول وروسته د خپلې كورنۍ نژدې كسانو ته چې ابوطالب، حمزه، عباس او ابو لهب هم پكې وو، د علي رض په وسيله ميلمستيا وكړه. د علي رض له قوله چې شمېر يې تقريبا تر ۴۰ رسيده. د ميلمستيا په لومړۍ ورځ ابولهب د رسول الله صلى الله عليه وسلم پلان ور خراب كړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم مجبور شو چې د دعوت لپاره دويمه ورځ بيا ميلمستيا وكړې. علي ته يې امر وكړ چې بيا هم د پرون په شان يوه غونډه جوړه كړي او هغه دا كار وكړ.

كله چې له خوراك او څښاك فارغېږي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې دعوت ور كوي:

---

[٤٩] (الرحيق المختوم: ۱۲۱).

يا بني عبد المطلب، والله ما أعلم شاباً من العرب جاء قومه بأفضل مما جئتكم به قد جئتكم بأمر الدنيا والآخرة.[٥٠]

ژباړه: اې د عبد المطلب زامنو! والله! زه د عربو هیڅ ځوان نه پیژنم چې خپل قوم ته یې تر هغه څه غوره شی راوړی وي لکه ما چې تاسو ته راوړی دی، ما تاسو ته د دنیا او اخرت امر راوړی دی.

رسول الله په دې مرحله کې د خپلې کورنۍ کسان دوه ډوله دعوت کړل، لومړی یې د صفا پر غونډۍ راغونډ کړو چې هلته هم ابولهب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بدې خبرې وکړې او په میلمستیا کې یې بیا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه ناسمې خبرې وکړې او له دې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم په لومړۍ ورځ له خپلو خپلوانو سره هیڅ خبرې ونه کړې او پلان یې همداسې بې نتیجې پاته شو چې په دویمه ورځ یې بیا هم میلمانه کړو او خپل دعوت یې د هغوی تر غوږونو ور ورساوه.

### ۳- استازي لیږل:

د نبوت په ۱۱ کال رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوس قبیلې له څو تنو مشرانو سره ولیدل، هغوی یې اسلام ته دعوت کړل او هغوی هم اسلام ومانه. رسول الله صلی الله علیه وسلم به د حج په موسم کې هر

---

[٥٠] سيرة ابن اسحاق = السير والمغازي (الجزء: ١٤٦/٣).


Www.sikaram.com

وخت قبایل اسلام ته رابلل خو دا یې لومړی وار وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د یثرب د یوې قبیلې بسته ټولۍ لبیک ویلی وو. له دې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم یواستازی ورسره ولېږه چې هم دوی ته اسلامي احکام تشریح کړي او هم په هغه سیمه کې نور قبایل اسلام ته دعوت کړي.

د استازي نوم مصعب بن عمیر وو؛ هغه مدینې ته په راتلو هم د اسلامي احکامو تشریح پیل کړه او هم یې نور کسان اسلام ته رابلل. ابن عمیر یوه ورځ اسعد بن زراره د عبد الاشهل کورنۍ ته وروستی. دوی هلته له یوې څا سره کیناستل او ځینې کسان چې ایمان یې راوړی وو، د دوی شاوخوا ته راټول شوو، سعد بن معاذ او اسید بن حضیر چې د عبد الاشهل مشران وو، همدلته نژدې ناست وو. سعد، اسید ته وویل: ورشه دا دوه کسان وشړه، دوی زموږ ضعفاء بې عقلان کوي. اسید راغی خو د ابن عمیر په خبرو او دعوت مسلمان شو، بیا ورغی او په یوه بانه یې سعد بن معاذ هم دوی ته را ولېږه او په یوه اراده راغی خو له دې لورې مسلمان ستون شو او په دې ډول اسلامي دعوت په مدینه کې په چټکۍ خپور شو.[٥١]

[٥١] (الروض الانف، الجزء الرابع، بیعة عقبة الاولی:۷۴/۴).

له دې پرته رسول الله صلی الله علیه وسلم نور هم زیات استازي لېږلي دي، لکه معاذ بن جبل، ابو موسی الاشعري، علي مرتضی او داسې نور.

**۴ـ لیکونه لېږل:**

د لیکونو په برخه کې په عمومي ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لیکونه زیات شهرت لري چې د حدیبیې تر سولې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د عربي جزیرې شاوخوا امیرانو او پاچاهانو ته لېږلي وو، اما ځینې لیکونه یې له دې پرته نور وختونه هم لېږلي دي چې یو یې په مکې دور کې د حبشې پاچا ته له تلونکو مهاجرینو سره استولی وو:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ إِلَى النَّجَاشِيِّ الأَصْحَمِ مَلِكِ الْحَبَشَةِ، سِلْمٌ أَنْتَ، فَإِنِّي أَحْمَدُ إِلَيْكَ اللَّهَ الْمَلِكَ الْقُدُّوسُ السَّلامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ عيسى بن مَرْيَمَ رُوحُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ، أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ الْبَتُولِ الطَّيِّبَةِ الْحَصِينَةِ، فَحَمَلَتْ بِعِيسَى، فَخَلَقَهُ اللَّهُ مِنْ رُوحِهِ وَنَفْخِهِ كَمَا خَلَقَ آدَمَ بِيَدِهِ وَنَفْخِهِ، وَإِنِّي أَدْعُوكَ إِلَى اللَّهِ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وَالْمُوَالاةِ عَلَى طَاعَتِهِ، وَأَنْ تَتَّبِعَنِي وَتُؤْمِنَ بِالَّذِي جَاءَنِي، فَإِنِّي رَسُولُ اللَّهِ، وَقَدْ بَعَثْتُ إِلَيْكَ ابْنَ عَمِّي جَعْفَرًا وَنَفَرًا مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَإِذَا جَاءَكَ فَأَقِرَّهُمْ، وَدَعِ

التَّجَبُّرَ، فَإِنِّي أَدْعُوكَ وَجُنُودَكَ إِلَى اللَّهِ، فَقَدْ بَلَّغْتُ وَنَصَحْتُ، فَاقْبَلُوا نُصْحِي، وَالسَّلامُ عَلى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدى.[٥٢]

ژباړه: بسم الله الـرحمن الـرحيم د محمـد رسـول الله صـلى الله عليـه وسلم له لوري د حبشې پاچا نجاشي اصحم ته، پر تا دې سلام وي، زه تاته د هغه الله ستاينه کوم چې پاچا دی، قدوس، سلام، مومن او مهيمن اوصاف لري، شاهدي ور کوم چې عيسى بن مريم د الله روح او کلمـه ده، غيرتمنې، پاکې او پاکلمنې مريمې ته يې ور کړې، نو عيسى يې په نس شو، بيا يې له خپله روح او پوکي پيدا کړ لکه چې ادم يې په خپل لاس او له خپل پوکي پيدا کړی وو. زه تا يـوازيني الله تـه را بـولم چـې هيڅ شريک نه لري، دوستي د هغه پر اطاعت ده، زما پـيروي وکـړه او پر هغه څه ايمان راوړه چې ما ته راغلي دي؛ ځکه زه د الله رسول يـم، تاته مې د خپل تره زوی جعفر له څو مسلمانو کسانو سره در لېږلی دی، کله چې تاته درشي نو له ځان سره يې ميشت کړه، تکبر ايله کړه، زه تـا او ستا لښکرې د الله لور ته رابولم، ما پيغام ورساوه، نصحيت مې وکړ نو زما نصيحت ومنه او پر هغه چا سلام چې د هدايت پيروي يې وکړه.

که څه هم دا ليک طبري د هغو ليکونو په لـړ کـې راوړی دی چـې رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديبيې تر سولې وروسته لېږلي دي اما

---

[٥٢] (تاريخ الطبري الجزء الثـاني ذكـر خـروج رسـل رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم الـى الملوك:٢/ ٦٥٢).

د مبارکپوري په وینا چې د لیک متن د هغه لیک په ډول نه معلومېږي چې د حدیبیې تر سولې وروسته دې لېږل شوی وي، د ده په وینا چې دا لیک رسول الله صلی الله علیه وسلم مکي دور کې له جعفر سره لېږلی وو او د هغه یادونه یې د لیک په متن کې ورته کړې هم ده چې دوی په حبشه کې درسره میشت کړه.

رښتیا هم دا متن له هغه متن سره توپیر لري چې د حدیبیې تر سولې وروسته یې لېږلي دي، له تاریخي روایاتو معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حبشې لور ته درې لیکونه لېږلي دي، یو لیک یې مکي دور کې لېږلی دی او دوه یې مدینې ته تر هجرت وروسته. دوه لومړي لیکونه یوه پاچا ته لېږل شوي دي چې لومړی یې له مکې د مهاجرو په اړه دی او دویم یې دعوتي لیک وو، خو درېیم لیک یې نوي پاچا ته استولی دی چې هغه ته یې د اسلام بلنه ور کړې وه او تر دې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی دی.

**۵ـ د عیادت مهال دعوت:**

رسول الله خپل مسوولیت په هر حال کې ادا کاوه، له دې امله یې هیڅ موکه نه ضایع کوله او هر وخت چې به د دعوت زمینه ورته برابره شوه نو هلته یې بې له ځنډه خپل دعوت رساوه. یو مثال یې د بخاري دا لاندې روایت دی:

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ غُلاَمٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ: «أَسْلِمْ»، فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُ: أَطِعْ أَبَا القَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَسْلَمَ، فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ: «الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ».[٥٣]

ژباړه: انس رض ويل: يو يهودی هلك وو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم خدمت به يې کاوه، بيا ناروغ شو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم يې پوښتنې ته ورغی، له سر سره يې ورته کيناست، ورته وې ويل: مسلمان شه! هغه خپل پلار ته وکتل چې له سره ته يې ناست وو. هغه ورته وويل: د ابو القاسم خبره ومنه. هغه مسلمان شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د راوتلو مهال ويل: هغه الله ته دې حمد وي چې يو نفس يې له اوره وژغوره.

د بخاري په يوه بل روايت کې دي چې کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم تره ابو طالب وفات کېده نو رسول الله صلی الله عليه وسلم يې خوا ته ورغی، هلته ابوجهل بن هشام او عبد الله بن ابي اميه بن المغيره هم ناست وو. رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل تره ته وويل:

" يَا عَمِّ، قُلْ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللَّهِ "

[٥٣] (صحيح البخاري کتاب الجنائز باب اذا اسلم الصبي فمات...ح: ١٣٥٦).

ژباړه: اې تره! د لا اله الا الله یوه کلمه ووایه، ستا لپاره به د الله په وړاندې د همدې شاهدي ور کړم.

خو ابو جهل او عبد الله پیغور ورکړ چې اوس د خپل پلار لار پرېږدې، اخر ابو طالب اقرار وکړ چې د عبد المطلب پر دین دی.[54]

**۶- د حج په موسم او د تجارتي کاروانو د راتلو مهال:**

رسول الله د یوه نړۍ وال دعوت مسوولیت در لودی، له دې امله یې نو یوازې د مکې پر خلکو بسنه نه کوله، بلکې د موکې په ترلاسه کولو به یې نورو خلکو ته هم بلنه ور کوله، په دې اړه د سیرت کتابونه کاږي:

لم یکن بدّ لرسول الله صلّی الله علیه وسلّم- وقد استحکمت العداوة بینه، وبین قریش، وإصرارهم علی خلافه، وإباء أهل الطائف نصرته، والدخول في دعوته، وإیذاؤهم له- من أن ییمّم وجهه قبائل العرب الاخری في مواسم الحج، وأسواق التجارة.[55]

ژباړه: په داسې حال کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او قریشو ترمنځ دښمني سخته شوې وه، قریشو د هغه پر مخالفت ټینګار کاوه، د طایف خلکو د هغه له مرستې انکار وکړ او دعوت یې ونه مانه بلکې تکلیف یې ور کړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بله چاره

[54] (بخاري کتاب الجنائز باب اذا قال المشرك عند الموت: لا اله الا الله ح: ۱۳٦۰).
[55] السیرة النبویة علی ضوء القرآن والسنة (۱/ ٤۲۹).

نه وه چې د حج د موسم او (په خاصو وختونو کې) د تجارت مهال نورو عربي قبايلو ته ورشي.

رسول الله تر دې مخکې د طايف سفر هم کړی وو، اما له هغه ځايه يې هم خاصه نتيجه نه وه راوړې، په مکه کې هم تر اوسه د پام وړ پايله نه وه تر لاسه شوې، له دې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکيانو او طايف د خلکو پر ځای د حج په موسم او د تجارتي کاروانو د راتلو مهال چې به راکړې ورکړې بازارونه ګرم وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورتلی او نورو عربي قبايلو ته به يې بلنه ورکوله. د رسول الله صلی الله عليه وسلم له تره عباس څخه په دې اړه روايت دی:

وقد روى أبو نعيم بسنده عن العباس- رضي الله عنه- قال: قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم صلّى الله عليه وسلّم: «لا أرى عندك، ولا عند أخيك- يريد أبا لهب- منعة، فهل أنتم مخرجيّ إلى السوق غدا حتى نقر في منازل قبائل الناس» وكان مجمع العرب، فخرج رسول الله صلى الله عليه وسلم صلّى الله عليه وسلّم، ومعه الصديق أبو بكر رضي الله عنه، فعرض نفسه على قبائل العرب وبطونها قائلا:

«يا بني فلان إني رسول الله صلى الله عليه وسلم إليكم، امركم أن تعبدوا الله، ولا تشركوا به شيئا، وأن تخلعوا ما تعبدون من دون الله من هذه الأنداد وأن تؤمنوا بي، وتمنعوني حتى أبلّغ رسالة ربي» ؟ ويقول: «من

يحملني حتى أبلّغ رسالة ربي» ويقول: «يا أيها الناس قولوا لا إله إلا الله تفلحوا».[٥٦]

ژباړه: ابو نعيم په خپل سند له عباسه رض روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ده ته وویل: زه له تا او ستا له ورور (ابولهب یې هدف وو) سره خوندي نه یم؛ ایا سبا له ما سره بازار ته نه وزې چې خلکو په تم ځایونو کې میشت شو؟ هلته به عرب را ټولېدل. رسول الله صلی الله علیه وسلم له ابو بکر صدیق سره یوځای ولاړ، عربي قبیلو او خیلونو ته ورغی ورته ویل یې: اې د فلاني زامنو! زه تاسو ته د الله رسول یم، تاسو امر کوم چې د الله عبادت وکړئ او هیڅ شی مه ورسره شریکوئ، ټول هغه سیالان پرېږدئ چې تاسو یې له الله ماسیوا عبادت کوئ، پر ما ایمان راوړئ، زما ساتنه وکړئ چې زه د خپل رب پیغام ورسوم. همدا شان یې ویل: څوك زما ساتنه کوي چې زه د خپل رب پیغام ورسوم؟ او ویل یې: اې خلکو! ووایئ: له الله پرته بل معبود نه شته؛ بریالي به شئ.

له هغو ګڼو روشونو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل دعوت مهال څنې کار اخیستی، یو روش یې همدا وو چې پاس یې یادونه وشوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم په همدې روش کې اخر

٥٦ السيرة النبوية على ضوء القرآن والسنة (١/ ٤٢٩).

هغه بریا تر لاسه کړه چې ۱۳ کاله یې د مکې خلکو ته په دعوت کې نه وه تر لاسه کړې. پر عربي قبایلو د گرزېدا مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت په ۱۱ کال د مدینې د خزرج قبیلو پر څو کسانو پیښ شو چې د هغوی په وسیله دا پیغام تر مدینې ورسېد او همدا لړۍ دوه کاله وغزېده چې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحامو هم د هغوی لور ته هجرت وکړ او د یوه نوي نظام بنسټ یې کېښېښود. دا د هغه دعوت پایله وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکېانو پرته نورو عربو قبایلو ته کړی وو.

### ۷- په خپله سفرونه کول:

د مبارکپوري په وینا د نبوت په لسم کال د شوال میاشت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکې د طایف لورته مخه کړه. طایف له مکې ۶۰ میله لرې وو، هغه پیاده روان وو زید بن حارثه یې له ځان سره ملگری کړی وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم په لار کې پرتې قبیلې هم اسلام ته دعوت کړې خو یوې هم مثبت ځواب ور نه کړ.

رسول الله طایف ته په رسیدو، یو په بل پسې قومي مشران اسلام ته دعوت کړو، اما نه یوازې یې اسلام ونه مانه بلکې د هر یوه ځواب به تر بل بدتر وو. سیرت لیکونکي کاږي:

فلمّا انتهى إليها قصد إلى نفر من رجالاتها، الذين ينتهي إلـيهم أمرهـا، ثم كلّمهم في الإسلام، ودعاهم إلى الله، فردوه- جميعا- ردّا منكرا، وأغلظـوا له الجواب، ومكث عشرة أيام، يتردّد على منازلهم دون جدوى.[٥٧]

ژباړه: کله چې طايف ته ورسېد، هغو کسانو ته ورغی چې د طايف مشران ګڼل کېدل، د اسلام په اړه يې خبرې ورسره وکړې، د الله لور تـه يې را وبلل، ټولو ډېر بد ځواب ور کړ، زياتی يې ورسره وکړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم هلته لس ورځې تيرې کړې، د هغوی کورنو تـه بـه ورتلی خو هيڅ ګټه يې ونه کړه.

رسول الله له مکې طايف ته د يوې هيلـې لـه مخـې راغلـی وو، امـا دلته يې هيڅوک ونه موندل چې د هغه هيله ور پوره کړي. له دې املـه مايوس شو او بيرته يې د تلو تکل وکړ. د سيرت کتابونه ليکي:

فلمّا يئس الرسول عليه الصلاة والسلام من خيرهم، قال لهم: «إذا أبيتم، فاكتموا عليّ ذلك» - كراهية أن يبلغ أهل مكة، فتزداد عداوتهم وشـماتتهم- لكنّ القوم كانوا أخسّ مما ينتظر، قالوا له: اخرج من بلدنا، وحرّشوا عليه

---

[٥٧] فقه السيرة للغزالي (ص: ١٣٤).

الصبيان والرعاع، فوقفوا له صفين يرمونه بالحجارة، وزيد بن حارثة يحاول- عبثا- الدفاع عنه، حتى شجّ في ذلك رأسه.[58]

ژباړه: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی له شیګنې ناهیلی شو، دوی ته یې وویل: که تاسو انکار کوئ، نو زما دغه کار پټ وساتئ! رسول الله صلی الله علیه وسلم ډارېده چې دا خبر مکیانو ته ونه رسېږي، نو دښمني به یې نوره هم زیاته شي؛ اما د طایف مشران تر هغه ډېر بد وختل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې هیله در لوده، دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زموږ له ښاره ووزه. هلکان او نور کمعقلان یې ور پسې مرش کړو چې دوې لیکې یې جوړې کړې او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په تیږو ویشته. زید بن حارثه هڅه کوله چې له ده دفاع وکړي، ان چې سر یې زخمي شو، خو دې کار یې ګټه ونه کړه.

له مکې بهر د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سفر زیات ګټور نه و، نه د طایف کسانو دعوت ومانه او نه په لار کې پرتو قبیلو دعوت قبول کړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته مکې ته راستنېدی، اما خبر یې تر هغه وختي مکې ته راغلی و، رسول د مکیانو د سختی له امله مطعم بن عدي ته احوال ولېږه چې ده ته پنا ور کړي، هغه دا خبره

[58] فقه السيرة للغزالي (ص: ١٣٤).

Www.sikaraam.com

ومنله او په حرم کې يې اعلان وکړ چې محمد ته ما پنـا ور کـړې ده او خپل زامن يې د هغه د ساتنې لپـاره لـه تـورو سره بهـر تـه را وايسـتل. ابوجهل پوښتنه ترې وکړه چې پنا دې ور کړې که مسـلمان شـوى يـې؟ هغه وويل: ما پنا ور کړې ده. ابوجهل وويل: هر چا ته چـې تـه پنـا ور کوې موږ هم پنا ور کړې ده. په دې توګه رسول الله صلى الله عليه وسلم بيرته مکې ته راغی او د مکيانو له شره يې ځان خوندي کړ.[59]

[59] (فقه السيره، جهاد الدعوه(في مکه)، في الطائف:١٣٤/١).

Www.sikaraam.com

# څلورم څپرکی

## لومړی مبحث

## دعوت په جنګي او سوله ییز میدان کې

### اول مطلب:

### دعوت له جنګي میدانه بیا د سولې تر خوښیو:

په مکه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت په سوله ییزه فضا کې وو، هلته رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو تـه د جنـګ امر نه وو ور کړی، له دې امله نو هغه دور یو سوله ییز دور بللای شـو. ۱۳ کاله همداسې تیر شو، که څه هـم مکیـانو تـر خپلـه وسـله ظلمونـه کول، حتا یـاسر او د هغـه میـرمن یـې پـه شـهادت هـم ورسـول، امـا د مسلمانانو له لوري وسله وال رد عمل نه وو، هغوی یوازې خلک د الله دین ته رابلل، د رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم او قـران کـریم زیـات ټینګار پر باور جوړونه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت منل،

پر يوه الله ايمان راوړل او د قران کريم حقانيت بانـدې وو. کـه د قـران کريم مکي سورتونه وکتل شي نو معلـومېږي چـې رسـول الله صـلی الله عليه وسلم په مکه کې خپل تمرکز پر عقيدوي مسايلو ساتلی وو.

خو له دې امله چې مسلمانانو ځان ته سرپنا نه در لوده، د مکيانو له ظلمونو هيڅ مسلمان خونـدي نـه وو او حتـا رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم ته به يې هم تکليفونه ور کول، نو په دې دور کـې زيـاتو کسـانو اسلام ته مخه نه کړه، خو بيا هم په سونو کسانو اسلام ومانه او يوازې د حبشې لور ته په لسگونو کسانو هجرت وکړ چې ښځې او نارينـه دواړه پکې وو. موږ وړاندې يادونه کـړې ده چـې حبشـې تـه جعفـر بـن ابي طالب هم هجرت کړی دی او رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته يو ليک ور کړی وو چې د حبشې عيسوي پاچا ته يې ور کړي.

مکيانو په دې دور کې خپل ټول کوښښ وکړ چې د اسـلام دعـوت مخه ونيسي، ټولې حربې يې وکارولې چې د رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم دعوت ناکامه کړي، کله به يې ليونی باله، بل وخت به يې سـاحر ورته ويل، بيا به يې ويل کوډي په شوې دي، ځينو بـه ويـل د پخوانـو کيسې دي چې خلکو ته يې را نقل کوي، يو مهال به يې ويل ولې زياته شتمني نه لري؟ چا به ويل: خدای ولې دی خوښ کړی دی؟ کله به يې مختلفې نښې ځنې غوښتې، اما له دې ټولو وسيلو سره يې خپل تشدد او زورزياتی جاري ساتلی وو چې ټول مسلمانان يې له اذيته خونـدي نـه

وو لاکن پـه خـاص ډول کمـزوري مسـلمانان بـه هـر وخـت د دوی د خشونت نښه وو.

د قران کريم ځينې اياتونه همدې حربو ته اشاره کوي:

{ وَعَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَـذَا سَـاحِرٌ كَـذَّابٌ () أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ} [ص: ٤، ٥]

ژباړه: دوی تعجب وکړ چې له دوی څخه يو خبر ورکونکی ورتـه راغی، کافرانو ويل: دا جادوګر لوی درواغجن دی. ايا دی خدايان يـو خدای کوي؟ بېشکه دا د حيرت وړ يو شی دی.

يو بل ځای وايي:

{أَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْ بَيْنِنَا} [ص: ٨]

ژباړه: ايا زموږ له منځه پر ده وحې نازله شوې؟

قران کريم يې په ځواب کې وايي:

{أَمْ عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ} [ص: ٩]

ژباړه: ايا له دوی سره د ستا د رب د رحمت خزانې دي هغه غالب او ډېر ورکونکی؟

د شيطانانو د خبرو تور يې هم ور پوري کړ، قران کريم وايي:

{وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيَاطِينُ () وَمَا يَنْبَغِي لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ}.

[الشعراء: ۲۱۰، ۲۱۱]

ژباړه: قران شيطانان نه شي نازلولای، نه دوی ته ښايي او نه يې وس لري.

د شاعر په نوم يې هم ياد کړی وو، قران يې د هغه اشعار بلل، قـران وايي:

{ وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُبِينٌ}.

[يس: ٦٩]

ژباړه: او موږ ده ته شعر نه دی ښـودلی او نـه ورتـه مناسـب دی، دا کتاب يوازې ذکر او واضح قران دی.

دې ته ورته ډېر تورونه وو چې قران يې په مختلفو ځايونو کې يادونه کړې ده او ځای پر ځای يې د هغوی د شکونو ځوابونـه هـم ور کـړي دي. تر دې وروسته مدني دور دی چې د جنګ له جبهې سره يو ځای د دعوت کاروان هم روان وو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند تر وروستۍ شيبې د دعوت سلسله روانه وه.

رسول الله له هر مناسب فرصت څخه د دعوت لپاره ګټه پورته کوله، په مکه کې تر ۱۳ کاله دعوت وروسته يې مدينه د دعوت لپـاره مناسـبه

وګڼله او اصحابو ته يې اجازه ور کړه چې لـه مکـې هجـرت وکـړي او مـدينې تـه ولاړ شي، هلتـه پخـوا د مـدينې خپـل اوسـېدونکي زيـات مسلمانان شوي وو او حالات د دې لپـاره جـوړ وو چـې مکـي مهـاجر هلته ميشت شي او د مکيانو له ظلمه ځانونـه خـلاص کـړي. رسـول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته په راتلو لومړی د مسلمانانو ترمنځ اخوت ته لار جوړه کړه او بيا يې د مدينې له اوسېدونکو يهودو سره يـو تـړون وکړ چې دا په تاريخ کې د ميثاق مدينه په نوم يادېږي.[٦٠]

په دې ډول رسول الله صلی الله عليـه وسـلم ص د خپـل دعـوت پـه وړاندې له خپـل وس سره سـم خنډونـه لـه منځـه يـووړل، يهـود چـې همدلته په مدينه کې اوسـېدل او د احـتمال مخالفـت ويـره تـرې کېـده رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې تړون سره د هغوی مخالفت خـتم کړ او په مدينه کې يې خپل دعوت ته دوام ور کړ. لومړی يې هلتـه يـو مسجد جوړ کړ، بيا يې پوځ منظم کړ، که څه هم جنګ د عربو کسـب وو، خو نظم او ډسپلين باندې يې رسول الله صلی الله عليـه وسـلم کـار وکړ او په يوه پوځ يې بدل کړل چې په اينده کـې د مسـلمانانو د نـوي ايجاد شوي نظام او اسلامي دعوت ساتنه وکړي.

---

[٦٠] (دراسة في السيرة الفصل الخـامس القواعـد الاولـى لدولـة الاسـلام في المدينـة، ثانيـا: الصحيفة: ١٢٣او ٣٠٢).

Www.sikaraam.com

د بني نضير يهودو چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره معاهده ماته کړه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اراده وکړه په زور يې له مدينې وشړي او د هغوى له شر څخه ځان خوندي کړي، اما په عينې حال کې يې بيا هم د اسلام بلنه ور کړه، د مسلم په يوه حديث کې دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ إِذْ خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ»، فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى جِئْنَاهُمْ، فَقَامَ رسول الله صلى الله عليه وسلم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَادَاهُمْ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ يَهُودَ، أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا»، فَقَالُوا: قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَلِكَ أُرِيدُ، أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا»، فَقَالُوا: قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فَقَالَ لَهُمْ رسول الله صلى الله عليه وسلم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَلِكَ أُرِيدُ»، فَقَالَ لَهُمُ الثَّالِثَةَ: فَقَالَ: «اعْلَمُوا أَنَّمَا الْأَرْضُ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ، وَأَنِّي أُرِيدُ أَنْ أُجْلِيَكُمْ مِنْ هَذِهِ الْأَرْضِ، فَمَنْ وَجَدَ مِنْكُمْ بِمَالِهِ شَيْئًا فَلْيَبِعْهُ، وَإِلَّا فَاعْلَمُوا أَنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ».[٦١]

ژباړه: ابوهريره ويل چې موږ په مسجد کې وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته راغی وې ويل: يهودو ته ورشئ، موږ له ده سره هغوی ته ورغلو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ودرېد او هغوی ته يې نارې کړې، ويل يې: اې يهوديانو! اسلام ومنئ خوندي به شئ! دوی وويل: اې ابو القاسم! تا پيغام ورساوه. رسول الله صلى الله عليه وسلم

[٦١] (صحيح مسلم كتاب الجهاد و السير باب اجلاء اليهود من الحجاز ح: ١٧٦٥).

Www.sikaraam.com

ورته وويل: همدغه زما هدف دی، اسلام ومنئ خوندي به شئ! دوی وويل: اې ابو القاسمه! تا پيغام ورساوه. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: همدغه زه غواړم. نو دريم ځل يې ورته وويل: په دې پوه شئ چې ځمکه د الله او رسول يې ده، ما اراده کړې ده چې له دې ځمکې مو وشړم، که ستاسو څوک په خپل مال کوم شی اخلي ودې پيري، کنه په دې بايد پوه شئ چې ځمکه د الله او رسول يې ده.

له دې حديث څخه معلومه شوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جنګ په ميدان کې هم د موکې په موندلو دعوت کړی دی او نامسلمانان يې دعوت کړي دي چې ايمان راوړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم لکه څنګه چې په مرض کې خلک دعوت کړي دي او موږ يې مخکې مثالونه راوړي دي، همداشان يې په جنګ کې هم خلک تر جګړې مخکې دعوت کړي دي چې په دې ډول يې غوښتل د جنګ مخنيوی وکړي او خلک پر کفر مړه نه شي او نه بې موجبه د انسانانو ترمنځ جنګ پيښ شي. رسول الله ﷺ وسلم تر خپله وسه له جنګه د ځان ساتنې کوښښ کاوه، قران کريم همدې نتکې ته داسې اشاره کړې ده:

{كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللَّهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ} [المائدة: ٦٤]

ژباړه: هر کله چې دوی د جګړې اور بل کړي الله یې مړ کړي او دوی په ځمکه کې فساد کوي او الله مفسدین نه خوښوي.

په یوه حدیث کې هم راغلي دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا».[٦٢]

ژباړه: له ابوهریره روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل: د دښمن د مخامخ کېدا هیله مه کوئ کله چې ورسره مخ شئ نو صبر وکړئ.

په دې حدیث کې راغلي دي چې له دښمن سره د ملاقات هیله مه کوئ، دا خپل دا په ګوته کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم له دښمن سره د ملاقات او جنګ غوښتنه نه کوي، نور پیروان هم په دې امر کوي چې له دښمن سره مخامخ کېدا دې نه غواړي، بلکې د مسلمانانو هدف د خدای تر مخلوقه د خدای پیغام رسول دي، که دا کار له هر ډول جنګ او خشونت پرته ترسره شي نو د اسلام اساسي هدف هم دادی او نه غواړي چې انسانان له کوم موجب پرته ومري.

---

[٦٢] صحیح مسلم (٣/ ١٣٦٢).

رسول الله د دفاعي جنگ تر څنګ خپل اساسي کار هر وخت مخته وړی، حتا د جنګ په میدان کې یې هم نه دی هیر کړی، ځکه جنګ د اسلام موخه نه ده، بلکې جنګ پر رسول الله صلی الله علیه وسلم تپل شوی وو، له دې امله نو هغه خپل اساسي کار پر هره موکه ترسره کاوه او د خپل مسوولیت په بشپړولو بوخت وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبیې د سولې مهال هم خپل رسالت پوره کړ. مکیانو پوره هڅه وکړه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم په جنګ کې کښېوزي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې هیلې ور پوره نه کړې او ټولې هڅې چې هغوی د جنګ د اور بلولو لپاره وکړې هغه یې شنډې کړې. اصلا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل اصحابو ته امر کړی وو چې احرام وتړي او خلکو ته دا پیغام ور کړي چې موږ د جنګ په موډ کې نه یو بلکې حرم ته د عمرې لپاره روان یو او د هیڅ ډول جنګ او جګړې اراده نه لرو. سیرت پوهان لیکي چې په دې وخت کې له عمرې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو اهداف وو چې مهم یې داسې بیان کړي:

۱/ رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته پیغام ور کاوه چې اسلام له مخالف لوري سره یوازې د جنګ، جګړې او مخالفت اړیکې نه ساتي، بلکې له مخالفانو سره هم کولای شي چې په سوله او امن کې وخت تېر کړي او مسلمانانو و نامسلمانان ټول یوځای ژوند سره وکړي.

۲/ د خندق تر جنگ وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوو نورو طرفونو هم گواښل کېده، يو يهود وو او بل عرب نصرانيان وو چې د روم له لوري يې ملاتړ کېده. لـه دې املـه رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم غوښتل چې له مکيانو سره خپله شخړه پای ته ورسوي يا لږ تر لږه يې کمه کړي، ځکه دې جنگونو يو لور ته وخت زيات ونيـوی او بـل لور ته رسول الله ﷺ په عيني وخت کې له درو دښـمنانو سره مـخ وو، هغه غوښتل چې د دښمنانو شمير کم کړي.

۳/ درېيم هدف يې دا وو چې مکه يوازې د بت پرسـتانو د عبـادت ځای نه دی او نه يوازې د هغـوی لـه مقدسـاتو شـمېرل کېـږي، بلکـې مسلمانان هم مکې ته عبادت کوي، عمره او حج همدلته ادا کـوي او د مقدساتو په لړ کې يې راځي.[٦٣]

رسول الله چې کله له عمرې را بند کړل شو، څو پلا مکيـانو د بريـد پلان جوړ کړ خو رسول الله صلی الله عليه وسلم به جنگه مخ وگرزاوه او د هغوی ژوندي نيول شوي کسان به يې خوشي کـړل. قـران کـريم يـې داسې يادونه کوي:

{وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّـةَ مِـنْ بَعْـدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا} [الفتح: ٢٤]

---

[٦٣] (دراسة في السيرة، الفصل السابع، صلح الحديبية: ١٨٥).

ژباړه: الله هغه دی چې د مکې په منځ کې یې د دوی لاسونه له تاسو بند کړل او ستاسو لاسونه یې له دوی، دا تر هغه وروسته چې تاسو یې پرې بریالي کړئ، الله د هغه څه لیدونکی دی چې تاسو یې کوئ.

قران کریم یادونه کوي چې مسلمانان پر مکیانو بریالي شوي دي، اما رسول الله صلی الله علیه وسلم جنګ نه کاوه، له دې امله یې نیول شوي کسان خوشي کړل او مکیانو ته یې پیغام ور کړ چې موږ جنګ ته نه یو راغلي بلکې د سولې او امن پیغام مو راوړی، د مکې طواف کوو او همداسې بیرته خپلو سیمو ته ځو، اما مکیان په جنګي نشه کې داسې مست وو چې دلته یې د هیڅ ډول اصولو پروا ونه کړه او د ټولو دیني، اخلاقي او مروجو اصولو خلاف یې رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحاب د خدای له کوره بند کړو. له دې هر څه بې عدالتۍ سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره جنګ نه غوښتی او د وینا او عمل له مخې یې هغوی ته د سولې او امن پیغام ور کاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کې ۱۳ کاله دوی ته بلنه ور کړې وه، خو اوس یې په عملي توګه هغه څه ورته ثابتول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته په خوله بیان کړي وو.[٦٤]

---

[٦٤] (السیرة النبویة عرض وقائع و تحلیل احداث، الفصل الثالث عشر الفتح المبین، سادسا: الوفود النبویة الی قریش و وقوع بعض الاسری في ید المسلمین: ٦٦٧).



Www.sikaraam.com

رسول الله چې د سولې تړون کاوه، هم يې دعوت په نظر کې نيـولی وو، د تړون په متن کې دي:

عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ، يَقُولُ: كَتَبَ عَـلِيُّ بْـنُ أَبِي طَالِبٍ الصُّلْحَ بَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ، فَكَتَبَ: «هَذَا مَا كَاتَبَ عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ».[٦٥]

ژباړه: ابو اسحاق ويل له براء بن عازبه مې واورېدل ويـل يـې چـې علي بن ابي طالب د رسول الله صلی الله عليه وسلم او مشرکينو تـرمنځ د حديبيې په ورځ د سولې تړون ليکی؛ هغه وليکل: دا هغه څه دي چـې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم او... پرې ليکل کړي.

که څه هم عربو د دې مخالفت وکـړ، بيـا رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم د هغوی د ټينګار له مخې دا الفاظ بدل کړل، خو لومړی ځل يې هغوی ته پيغام ور کاوه چې زه د الله رسول يم، رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خبره په مکه کې هغه مهال هم دوی ته کوله چې يوازې به د دوی مجالسو ته د دعوت لپاره ورتلی، خو اوس چې شاوخوا يې ۱۴۰۰ اصحاب را چارپير دي هم يې خبره هماغه ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه شي ته بلنه کوله دا که د واک مهال وو يا هم هغه وخت چې

[٦٥] (صحيح مسلم، کتاب الجهاد والسير، باب صلح الحديبيه في الحديبيه ح: ۱۷۸۳).

رسول د مکې په کوڅو کې یوازې خلکو ته بلنه ور کوله او هیڅوک به ورسره نه وو.

د حدیبیې تړون د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ستره بریا وه، قران کریم هم د فتح مبین (څرګندې بریا) په نوم یاده کړې ده. (الفتح: ۱) د رسول هدف همدا وو چې د مثلث دښمن یوه ضلعه ور ماته کړي، د خندق په غزا کې یهودو له قریشو سره د دوستۍ تړون هم کړی وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتل چې دا د تړون له منځه یوسي او په جنګي میدان کې د مسلمانانو مقابله اسانه کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم له پیله هم د هیچا په وړاندې توره نه وه پورته کړې، بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل دعوت لپاره خنډونه له منځه وړل؛ مکیان د دعوت په وړاندې تر ټولو لوی خنډ وو، کله چې هغوی د لس کاله اوربند او سولې تړون ومانه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په خلاص مټ د دعوت موکه په لاس ورغله چې له همدې امله یې د حدیبیې سولې ته د فتح مبین نوم ور کړی دی. ربښتیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې مرحله کې له عجمو تر عربو، له پاچاهانو تر امیرانو او قومي مشرانو ټولو هغو انسانانو ته دعوت ور کړ چې لاس یې ورته رسېده.

رسول الله د عمرې لپاره د کوچیانو مشرانو ته احوال ور کړی وو چې له ده سره عمرې ته ولاړ شي خو هغوی له ډاره ځانونه غلي کړل، د

الفتحې په سورت کې يې يادونه شوې ده، دا ځل له رسول الله صلی الله عليه وسلم شاوخوا ۱۴۰۰ اصحاب راغلي وو، اما دوه کاله وروسته چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې فتحې ته راغی، نو ۱۰۰۰۰ زره اصحاب ورسره وو، يعنې رسول الله صلی الله عليه وسلم په اته کاله مدني او ۱۳ کاله مکي دور کې دومره کسان مسلمانان نه کړل لکه په د اوربند په دې دوه کله موده کې چې يې مسلمانان کړل. تر دې هم وروسته چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبوک غزا ته تلی نو ۳۰۰۰۰ زره کسان ورسره ملګري وو چې دا په ټولو غزاګانو کې د مسلمانانو د شمېر له مخې ستر تعداد دی. اما کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د حجة الوداع ادايني ته تلی، نو تر يولک زيات اصحاب ورسره ملګري وو چې تر ټولو غزاګانو يې شمېر په څو چنده زيات وو. له دې ښکاري چې جنګ د اسلام د پراخونې لپاره دومره موثر نه دی لکه دعوت، له دې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم غوښتل چې د جنګ مرحله ختمه شي او له خپلو دښمنانو سره په سوله کې ژوند وکړي او خلک د اسلام لور ته دعوت کړي. په همدې مرحله کې د مکيانو هغه ستر کسان هم مسلمانانو شول چې د هغوی د پوځ ټوله تکيه پر هماغو کسانو وه، لکه خالد بن وليد، عمرو بن عاص او داسې.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ليکونو او استازو يادونه مو مخکې وکړه چې تر دې سولې وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم څومره ليکونه او رسولان ولېږل؟ کومو ځايونو ته يې واستاول؟ څومره

قبایلو د مدینې لور ته مخه کړه او څونه پلاوي راغلو چې لـه رسـول الله صلی الله علیه وسلم سره د دوستي تړون وکړي او یا هم پـه اسـلام کـې داخل شي. دا ټول د هغې سولې برکت وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکیانو سره وکړه او ګټه یې ټوله مسلمانانو ته ورسېده.

په دې برخه کې مو ټول هغه مثالونه راوړل چې رسـول الله صـلی الله علیه وسلم پکې دعوت کړی وو، دا که د سولې میدان وو یا د جنـګ، دا که د مکې دور وو چې مسلمانانو جنګ نه کاوه خو مقابل لوري یې خپل ټول ظلمونه وکړل او که د مدینې دور وو چې د جنګ له ګرمېـدا سره د دعوت مرحله هم تېزه شوه، ان کله چې د حدیبیې سوله کېږي نو دوه کاله وروسته دومره قبایل په اسلام کې داخلېږي چې په تېـرو کـابو شلو کلونو کې نه وو ورته راغلي، له دې ثابتېږي که د اسلام دعوت پـه نړۍ کې داسې مرحلې ته داخل شي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د حدیبیې تر سولې وروسته ورته داخل شوی وو، نو حتما به هغـه پایله لاس ته راوړي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابو چې په دوه کاله کې تر لاسه کړې وه.

**دویم مطب:**

**دعوت له عربو تر عجمو:**

قران کریم وایي:

{قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا} [الأعراف: ۱۵۸]

ژباړه: ووايه، اې انسانانو! زه تاسو ټولو ته د الله رسول يم.

{وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ} [سبأ: ٢٨]

ژباړه: او ته مو ټولو انسانانو ته زيرى او خبر ورکونکى لېږلى يې؛ خو زياتره انسانان نه پوهېږي.

رسول الله په عملي ډول هم نورو اقوامو ته بلنې ور لېږلې دي، لکه د روم پاچا، د فارس کسرا، د دمشق امير، د حبشې نجاشي او داسې چې شاغلي مبارکپوري يې په خپل کتابونه تفصيلي يادونه کړې ده او موږ هم په دې اړه مثالونه وړاندې تير کړي دي.[٦٦]

رسول الله په يوه حديث کې هم د دې موضوع يادونه داسې کړې ده:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ... وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً.[٦٧]

[٦٦] (الرحيق المختوم، ادوار الدعوه و مراحلها، المرحلة الثانيه طور جديد، المكاتبة الملوك والامراء،:٣٢٠).

[٦٧] صحيح مسلم (١/ ٣٧١).

ژباړه: له ابو هریره روایت دی چې رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم وویل: ما ته پر نورو نبیانو په شپږو شیانو غـوراوی راکـړل شـوی دی... (یو له هغو دادی چې) زه ټولو خلکو ته رسول لیږل شوی یم.

## دويم مبحث

## د نبوي دعوت ګټې او اغېزې

### اول مطلب:

### عربي ټولنه کې د دعوت ګټې او اغېزې:

د عربو ټولنه تر رسول اللهﷺ وړاندې له يوه حاکم نظام څخه بې برخې وه، قبايلي ټولنه وه او د قبايلو مشرانو پرې حکومت کاوه، له خارجي دښمن سره د ټکر او د خپلې سيمې د دفاع پر ځای به تل تر خپلو منځونو سره اخته وو. په همدې سخت پړاو رسول اللهﷺ له الهي پيغام سره راولېږل شو، هغه ټولنه چې د قران کريم په وينا د اور د کندې پر ژۍ ولاړه وه، يوه نيکمرغه ټولنه شوه:

{ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ}.

[آل عمران: ۱۰۳]

ژباړه: او په الهي رسۍ ټول منګولې ولګوئ او تفرقه مه کوئ، پر تاسو الهي نعمت در یاد کړئ چې تاسو سره دښمنان وئ، نو په زړونو کې یې مینه در واچوله، د هغه د نعمت په برکت سره ورونه شوئ، او تاسو د اور د کندې پر ژۍ وئ، نو ده ترې وژغورلئ، په همدې ډول الله تاسو ته خپل ایاتونه بیانوي چې ښایي لار پیدا کړئ.

د قران کریم دغه ایت د عربو پخواني او تر دعوت وروسته دواړو حالتونو ته اشاره کوي، لومړی یې خپل منځي دښمني وه چې له دې خپله د الهي عذاب مستحق کېدل، کله چې رسول الله ﷺ له الهي پیغام سره ورته راغی، نو تر خپل منځ سره ورونه شول، دښمنۍ یې پرېښودلې او له الهي عذاب څخه هم خلاص شول. نه یوازې دا چې دوی بریالي شول، بلکې قران کریم امر ورته وړ چې تاسو همدا پیغام نورې نړۍ ته ورسوئ:

{وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} [آل عمران: ۱۰٤]

ژباړه: او له تاسو دې یوه ډله خیر ته بلنه کوي، په نیکو دې امر کوي او له منکره منعه، او همدوی بریالي دي.

د عربو ټولنې ته دا د نبوي دعوت ګټه وه چې نه يوازې يې سره متحده کړه، له خپل منځي جنګونو يې وساتله، بلکې په ديني لحاظ يې د نورو ټولنو لپاره الګو او په اخرت کې د بريا زيري ور کړل شول. د السيرة النبوية والتاريخ الاسلامي ليکوال د نبوي دعوت په اړه ليکي:

ففي غضون عقدين من الزمان تقريبا بلّغ الرسالة الإسلامية العالمية الخالدة وأدّى الأمانة، وأسس دولة وأنشأ حضارة، ووحّد أمة وربّاها على الخلق القويم وهيأها لتفتح معظم العالم المعمور آنئذ وتملأه عدلا ورحمة وبرّا وسماحة.[٦٨]

ژباړه: رسول الله ﷺ تقريبا د دوو لسيزو په اوږدو کې نړيوال، تل پاتې اسلامي پيغام ورساوه او الهي امانت يې ادا کړ، د يوه دولت بنسټ يې کېښود، يو نوی تمدن يې را پيدا کړ، امت يې سره متحد، پر ښو اخلاقو يې تربيه ور کړه او دې ته يې چمتو کړ چې د هغه وخت د ودانې نړۍ لويه برخه فتح کړي، هلته د عدالت، رحمت، نيکۍ او بخښنې و زغم پيغام ور وړي.

[٦٨] السيرة النبوية والتاريخ الإسلامي (ص: ٤).

Www.sikaraam.com

**دويم مطلب:**

**له عربو پرته نورو قومونو ته د نبوي دعوت ګټې او اغېزې:**

رسول اللهﷺ په خپل ژوند کې له عربو پرته نورو قونونو ته هم بلنه ور کړې، قران کريم په دې اړه وايي:

{وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ} [سبأ: ٢٨]

ژباړه: او ته مو د ټولو انسانانو لپاره زيرى ورکونکى او خبر راوړنکى لېږلى يې، خو زياتره انسانان نه پوهېږي.

د قران کريم له وينا سره سم چې د رسول اللهﷺ رسالت يوازې تر عربو منحصر نه و، له دې امله هغه په خپل ژوند کې عملا له عربو بهر دعوتي ليکونه ولېږل، پاچاهان يې دعوت کړل، له عربو ماسيوا نورو خلکو ايمان پر راوړى، مشهور صحابي سلمان فارسي رضي الله عنه عرب نه و، يو بل مشهور صحابي عبد الله بن سلام له عربو نه و، حضرت بلال رضي الله عنه حبشي و، که د يوه يوه نوم واخلو نو بيخي زيات اصحاب شته چې د رسول اللهﷺ په ژوند کې يې ايمان راوړى او هغوى له عربو سر نسلا اړيکه نه در لود. د دې برخې ښه مثالونه د کتاب په لومړي سر کې تير شوي دي چې له عربي شاهانو ماسيوا رسول اللهﷺ د فارس او روم پاچاهانو ته د دعوت ليکونه ولېږل.

فقد أرسل رسائل إلى كبار ملوك العالم وأمرائه، يدعوهم إلى اتباعه والإيمان برسالته، فأرسل إلى كسرى فارس، وإلى هرقل إمبراطور الروم، وإلى إمبراطور الحبشة، وإلى المقوقس حاكم مصر، وكانت رسائل النبي صلّى الله عليه وسلم إلى هؤلاء الملوك وغيرهم دعوة سلمية إلى الدخول في الإسلام، ولم ترد في أية رسالة منها كلمة واحدة عن الحرب أو التهديد بها، ولم يقل رسول الله صلّى الله عليه وسلم لأي من هؤلاء الملوك: إذا لم تسلم سأقتلك.[٦٩]

ژباړه: نو رسول الله ﷺ د جهان سترو پاچاهانو او اميرانو ته ليکونه ولېږل، خپلې پيروي او د هغه پر رسالت ايمان ته يې رابلل، د فارس پاچا کسرا، د روم امپراتور هرقل، د حبشې امپراتور، د مصر حاکم مقوقس ته يې ولېږل، د رسول الله ﷺ دعوت دغو او نور پاچاهانو ته سوله ييز او يوازې اسلام ته د دخول دعوت و، په هيڅ يوه ليک کې هم د جنګ او تهديد يوه کلمه هم نه ده راغلې او رسول الله ﷺ له دې پاچاهانو يوه ته هم نه دي ويلي چې که دې اسلام ونه مانه نو زه به دې قتل کړم.

د نورو پاچاهانو برخلاف رسول الله ﷺ د قهر او تهديد تګلاره بدله کړه، له پاچاهانو، اميرانو او عامو خلکو سره يې د نرمۍ او ښو اخلاقو

[٦٩] السيرة النبوية والتاريخ الإسلامي (ص: ٤١٥).

Www.sikaraam.com

تګلاره را واخیسته چې لوړ یې موږ د نبوي لیکونو په بحث کې نمونې وړاندې کړې دي؛ اما د نړۍ د هغه وخت پاچاهانو به هر وخت د زور، تهدید او وژنې لوټنې خبرې کولې چې د رسول الله ﷺ په دعوت کې دې ځای نه در لود.

دا که یې عملي برخه وه، نو رسول الله ﷺ په قولي احادیثو کې هم دا خبره کړې ده چې د هغه دعوت یوازې تر عربو خاص نه دی:

وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً.[۷۰]

ژباړه: او زه ټول مخلوق ته رسول لیږل شوی یم.

د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته اسلام له عربو پرته په عجمي سیمو کې هم نشر شو، چې تر ننه هغو سیمو خپله غېږ ورته خلاصه کړې ده. د عجمو لپاره د اخروي ګټې ترڅنګ دنیوي ګټه د دې دعوت دا وه چې د فارس او روم امپراتوریو په سیمه کې نه یوازې د ځمکو د لاندې کولو لپاره سمیه ناامنه کړې وه بلکې ظلمونه یې هم کول، مسلمانانو د دغو سیمو په نیولو اتحاد راوست، د ظلم مخه یې ونیوله او پر دغو سیمو یې د پیړیو لپاره د خلافت بنسټ کېښود.

---

[۷۰] صحیح مسلم، کتاب المساجد ومواضع الصلاة، حدیث نمبر: ۵۲۱.

Www.sikaraam.com

اسلامي دعوت نه يوازې د عربو د اتحاد او اتفاق سبب شو، بلکې عجمو ته يې هم په دغه برخه کې لويه گټه وکړه، د اروپا له اندلسه رانيولې بيا د افريقا تر وچو او دښتو او بيا په جنوبي و ختيځه اسيا کې تر هند او ماوراء النهر پورې د اسلامي خلافت لمن غوړېدلې وه. په دې موده کې يې گڼ کلتورونه، قومونه او د بيلابيلو وچو او سيمو خلك سره گډ شول چې د يوه نوي تمدن را پيدا کولو ته يې لار جوړه کړه. ان په اروپا کې تر اوسه په دې اړه څېړنې کېږي او علمي سمينارونه دايرېږي چې عربو اندلس ته په راتلو هلته څه راوړل او اندلس اروپا ته د دغه علمي او تمدي ميراث په نقل کې کوم رول ادا کړ، دا هم په هسپانيا کې د يوه علمي سمينار نوم دی چې په ۲۰۰۳م کې جوړ شوی و:

«أثر الحضارة العربية الإسلامية في الغرب ودور أسبانيا في نقلها».[٧١]

اروپا ته د مسلمانانو د کلتوري نقل په اړه د ياد کتاب ليکوال يو بل ځای وايي:

وعلى الأخص صفحات إسهامات الحضارة العربية الإسلامية في إخراج أوربا من عصورها الوسطى المظلمة وتهيئتها لعصر النهضة، ولقد كانت

---

[٧١] السيرة النبوية والتاريخ الإسلامي (ص: ٣٢١).

Www.sikaraam.com

«الأندلس» - أسبانيا والبرتغال- بلا جدال أهم حلقات الوصل والمعابر التـي سلكتها الحضارة العربية الإسلامية إلى أوربا.[٧٢]

ژباړه: په خاص ډول د منځنيو پيړيو له تيارو د اروپا په را ايستلو او د نهضت پړاو ته يې په چمتو كولو كې د اسـلامي عـربي تمـدن ونـډه او يقينا «اندلس» - هسپانيا او پرتګال- له هر اختلاف پرته هغه مهمې كړۍ وې چې له همدې لارې عربي اسلامي تمدن اروپا ته لار ومونده.

كه پر عجمي نړۍ د اسلامي دعوت اغېزو ته تم شـو نـو پـه ټوكونـو كتابونه پر ليكل كيدلاى شي، همدغه بيلګې بسنه كوي او خپـل بحـث پر همدې ځاى پاى ته رسوم.

**پایله:**

د قران او سنت له دې نصوصو ثابته شوه چې د رسـول الله صـلى الله عليه وسلم دعوت نه يوازې تر مكې خاص وو او نه يې يوازې پر عربو بسنه كړې ده. رسول الله صلى الله عليه وسلم لكه چې په خوله ويلي دي همداسې يې په عملي ډول دعوت له عربو تر عجمـو رسـولى دى، پـر دې خبره ټول سيرت ليكونو سره يوه خوله دي چې رسول الله صـلى الله عليه وسلم په خپل ژوند كې د عجمو پاچانو ته دعوت ور كـړى وو او له رسول الله صلى الله عليه وسلم په اصحابو كې له عربو پرته عجم هـم

[٧٢] السيرة النبوية والتاريخ الإسلامي (ص: ٣٢١).

Www.sikaraam.com

وو، لکه سلمان فارسي، عبد الله بن سلام، د ده خپله میرمن صفیه بنت حیی، بله میرمن یې ماریه قبطیه او ګڼ نور چې دلته یې د ټولو یادونه اړینه هم نه ده.

دا مثالونه ثابتوي چې نبوي دعوت یوازې په عربي جزیره کې نه شوای تم کېدای، له دې امله یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې وړاندې د عربو له جزیرې راووتې او د راشده خلافت مهال یې په عملي ډول د عجمو تر امپراتوریو خپله رڼا وغزوله. دا سلسله همداسې روانه وه ان تر اوسه. د اسلام دعوت یوازې پر عربو خاص نه وو، له دې امله نو نن په نړۍ کې د عربو ترڅنګ میلیونونه عجم مسلمانان هم شته د ټولې نړۍ په ټولو وچو کې قرار لري او همدا اوس په نړۍ کې هیڅ داسې ملک نه شته چې مسلمانان دې پکې وجود ونه لري. د د هغه عالمي دعوت نتیجه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کې یوازې پیل کړی وو او نن یې تر یو میلیارد زیات پیروان په نړۍ کې شته.

پای

کابل- افغانستان/ د ماپښین شل کم درې بجې د ۱۳۹۹ د جدې د دریم تاریخ غوره ورځ.

## مراجع

۱ـ قران کریم.

۲ـ صحیح البخاري، د ابو عبد الله محمد بـن اسـماعیل البخـاري، د محمد زهیر بن ناصر الناصر په تحقیق، د دار طوق النجاة چاپ، لومړی چاپ ۱۴۲۲هـ .

۳ـ صحیح مسلم، د ابـو الحسـن مسـلم بـن الحجـاج النیسـابوري، د محمد فؤاد عبد الباقي په تحقیق، د دار التراث العربي چاپ بیروت، له تاریخ پرته.

۴ـ سنن ابي داؤد، د ابوداؤد سلیمان بن اشعث السجستاني، د محمد محیی الدین عبد الحمید په تحقیـق، د المکتبـة العصرـیه صـیدا چـاپ بیروت، له تاریخ پرته.

۵ـ سنن الترمذي، د ابو عیسی محمد بن عیسـی الترمـذي، د محمـد احمد شاکر، محمـد فـؤاد عبـد البـاقي او ابـراهیم عطـوه پـه تحقیـق، د مصـطفی بـابي مکتبـه او مطبعـه چـاپ مصرـ، دویـم چـاپ: ۱۳۹۵هــ ۱۹۷۵م.

٦ـ مسند احمد، د ابو عبد الله محمد بن احمد بن حنبل الشيباني، د شعیب ارنووط، عادل مرشد او نورو په تحقيق، د الرساله اداري چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۲۱هـ ۲۰۰۱م.

۷ـ الرحيق المختوم، د صفي الرحمن مبارکپوري، د دار الهلال بیروت چاپ، له تاريخ پرته.

۸ـ معجم اللغة العربية المعاصره، د احمد مختار عبد الحميد عمر او يوې ډلې تاليف، د عالم الکتب چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۲۹هـ ۲۰۰۸م، څلور ټوکه.

۹ـ السيرة النبوية علي ضوء القران والسنة، د ابو شهبه محمد بن محمد بن سويلم، د دار القلم دمشق چاپ، اتم چاپ: ۱۴۲۷هـ، دوه ټوکه.

۱۰ـ السيرة ابن اسحاق= السير والمغازي، د محمد بن اسحاق، د سهيل زکار په تحقيق، د دار الفکر بيروت چاپ، لومړی چاپ: ۱۳۸۹هـ ۱۹۷۸م.

۱۱ـ سيرة ابن هشام، د ابو محمد عبد الملك بن هشام جمال الدين، د مصطفي السقا، ابراهيم ابياري او عبد الحفيظ شبلي تحقيق، د مصر د مصطفی البابي د مکتبې چاپ، لومړی چاپ: ۱۳۷۵هـ ۱۹۵۵م، دوه ټوکه.

١٢ـ فقه السيره، دمحمد غزالي السقا، د محمد ناصر الدين الباني لـه لوري يې د حديثو تخريج شوی، د دار القلـم دمشـق چـاپ، لـومړی چاپ: ١۴٢٧هـ.

١٣ـ الـدعوة السـلامية في عهـدها المكـي: مناهجهـا و غاياتهـا، د دوكتور رؤف شبلي، د دار القلم چاپ، لومړی چاپ له تاريخ پرته.

١۴ـ السيرة النبوية- عـرض وقـائع وتحليـل احـداث، د عـلي محمـد محمد الصـلابي، د دار المعرفـه بيـروت چـاپ، اووم چـاپ: ١۴٢٩هــ ٢٠٠٨م.

١۵ـ السيرة النبوية والدعوة في العهد المدني، د احمد احمد غلوش، د الرساله اداري چاپ، لومړی چاپ: ١۴٢۴هـ ٢٠٠۴م.

١٦ـ حياة محمد، د محمد حسين هيكل، د خپرندوی اداري له نـوم او تاريخ پرته.

١٧ـ دلائل النبوة، د احمد بن حسين ابـوبكر البيهقـي، د دار الكتـب العليمه بيروت چاپ، لومړی چاپ: ١۴٠۵هـ.

١٨ـ تاريخ الاسلام ووفيات المشاهير والاعلام، د شـمس الـدين ابـو عبدالله محمـد بـن احمـد الـذهبي، د دوكتـور بشـار عـواد معـروف پـه تحقيق، د دار الغرب اسلامي چاپ، لومړی چاپ: ٢٠٠٣م، ١۵ ټوكه.

۱۹ـ السيرة النبويه، د ابو الفداء اسماعيل بن عمر بن كثير الدمشـقي، د مصطفى عبد الواحد په تحقيق، د ادر المعرفه بيروت چاپ، د چاپ کال: ۱۳۹۵هـ ۱۹۷٦م.

۲۰ـ المقتفى من سيرة المصطفى، د ابو محمد حسـن بـن عمـر بـدر الدين الحلبي، د دوکتور مصطفى محمد حسين الـذهبي پـه تحقيـق، د دار الحديث مصر چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۱٦هـ ۱۹۹٦م.

۲۱ـ اعلام السائلين عن كتب سيد المرسلين، د شمس الـدين محمـد بن علي بن خمارويه بن طولون الحنفي، د محمود الارناووط په تحقيق، د الرساله بيروت چاپ، دويم چاپ: ۱۴۰۷هـ ۱۹۸۷م.

۲۲ـ الروض الانف، د ابو القاسم عبد الرحمن بن عبد الله بـن احمـد السهيلي، د عمر عبد السلام السـلامي پـه تحقيـق، د دار احيـاء الـتراث العربي بيروت چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۲۱هـ ۲۰۰۰م، اووه ټوکه.

۲۳ـ تاريخ الطبري= تاريخ الرسل والملوك، وصلة تاريخ الطـبري، ابو جعفر محمد بن جرير بن يزيد الطبري، صلة تاريخ الطبري د عريب بن سعد الطـبري تـاليف، د دار الـتراث بيـروت چـاپ، دويـم چـاپ: ۱۳۸۷هـ، يوولس ټوکه.

۲۴ـ دراسة في السيرة، د عماد الدين خليـل، د دار النفـائس بيـروت چاپ، دويم چاپ: ۱۴۲۵هـ يو ټوک.

Www.sikaraam.com

٢٥ـ السيرة النبويـة والتـاريخ السـلامي، د عبـد الشـافي محمـد عبـد اللطيف، د دار السلام قاهره چاپ، لومړی چاپ: ١٤٢٨هـ، يو ټوك.


Www.sikaraam.com

**لړليک**


سريزه ........................................................................ ۳

د کتاب اړتيا: ........................................................... ۳

د کتاب ارزښت: .......................................................... ٤

د ليکنې تګلاره: ......................................................... ٦

اول څپرکی .................................................................. ۸

لومړی مبحث ............................................................... ۸

د دعوت معرفي .............................................................. ۸

اول مطلب: ................................................................. ۸

د دعوت مفهوم: ........................................................... ۸

دويم مطلب: ................................................................ ۹

د دعوت اهميت: ........................................................... ۹

دويم مبحث ................................................................. ۱۳


Www.sikaraam.com

لړلیک


نبوي دعوت ........................................................... ١٣

اول مطلب: .......................................................... ١٣

د نبوي دعوت پېژندنه: ................................................ ١٣

دویم څپرکی ........................................................... ١٦

لومړی مبحث ........................................................... ١٦

د دعوت اړتیا ........................................................... ١٦

اول مطلب: .......................................................... ١٦

په عربي ټولنه کې د نبوي دعوت اړتیا: .............................. ١٦

دویم مطلب: .......................................................... ١٨

د نبوي دعوت ځانګړتیاوې: ............................................ ١٨

دویم مبحث ........................................................... ٣٠

دعوتي اصول ........................................................... ٣٠

اول مطلب: .......................................................... ٣٠

په شریعت کې د اسلامي دعوت اصول: ................................ ٣٠

دویم مطلب: .......................................................... ٤٠

انساني ټولنې ته د دعوت ګټې: ...................................... ٤٠

درېیم څپرکی ........................................................... ٤٣


Www.sikaraam.com

لړلیک


لومړی مبحث: ..................................................٤٣
په مکه کې دعوت ..................................................٤٣
اول مطلب: ..................................................٤٣
په مکه کې د نبوي دعوت مرحلې: ..................................................٤٣
الف: پټ دعوت: ..................................................٤٤
ب: د دعوت ښرگندېدل: ..................................................٤٦
دويم مطلب: ..................................................٤٩
له مکې بهر دعوت: ..................................................٤٩
پايله: ..................................................٥٢
درېيم مطلب: ..................................................٥٣
د مکي او مدني دعوت ترمنځ ځينې توپيرونه: ..................................................٥٣
دويم مبحث ..................................................٥٧
په مدينه کې دعوت ..................................................٥٧
اول مطلب: ..................................................٥٧
د مدني دعوت مرحلې: ..................................................٥٧
الف: لومړۍ ٦ کلنه مرحله: ..................................................٥٨
ب: دويمه مرحله: ..................................................٦٦


Www.sikaraam.com

ج: درېيمه مرحله: ..................................................۸۰
دويم مطلب:..........................................................۸٤
د دعوت ميکانيزم: ..................................................۸٤
۱ـ فردي کتنې:.....................................................۸٤
۲ـ ميلمستياوې: ...................................................۸۸
۳ـ استازي لېږل: ..................................................۸۹
۴ـ ليکونه لېږل: ..................................................۹۱
۵ـ د عيادت مهال دعوت ........................................۹۳
٦ـ د حج په موسم او د تجارتي کاروانو د راتلو مهال:...........۹۵
۷ـ په خپله سفرونه کول: ..........................................۹۸
څلورم څپرکی.......................................................۱۰۲
لومړی مبحث ......................................................۱۰۲
دعوت په جنگي او سوله ييز ميدان کې ...........................۱۰۲
اول مطلب:.........................................................۱۰۲
دعوت له جنگي ميدانه بيا د سولې تر خوښيو: ..................۱۰۲
دويم مطب: .......................................................۱۱٦
دعوت له عربو تر عجمو:..........................................۱۱٦

Www.sikaraam.com

لړلیک


دويم مبحث ........................................................ ۱۱۹

د نبوي دعوت ګتې او اغېزې.......................................... ۱۱۹

اول مطلب:........................................................ ۱۱۹

عربي ټولنه کې د دعوت ګټې او اغېزې: ......................... ۱۱۹

دويم مطلب:....................................................... ۱۲۲

له عربو پرته نورو قومونو ته د نبوي دعوت ګټې او اغېزې: ...... ۱۲۲

پايله: ............................................................ ۱۲۶

مراجع ............................................................ ۱۲۸


Www.sikaraam.com